

# ننګرهار

## د تاریخ سوالونه او ځوابونه





Ketabton.com













خپل نوم:.........................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تاریخ سوالونه او ځوابونه

## ویدی مدنیت

سوال : په افغانستان کی تر ټولو لرغونی مدنیت کوم یو وه ؟

ځواب : ویدی مدنیت وه

سوال : ویدی مدنیت مغنا څه ده ؟

ځواب : د پوهی او علم مغنا لری

سوال : د ویدی مدنیت پر مهال د اریایانو لومړنی پایتخت کوم یو وه ؟

ځواب : بخدی لرغونی ښار و

سوال : د ویدی مدنیت خلکو به حپل ضروریات د څه شی نه پوره کول ؟

ځواب : د ژوو حرځولو او کرنی له لاری نه به یی پوره کول

سوال : د تجارت سستم یی څه ډول وه ؟

ځواب : جنس په جنس یی وه

سوال : په ویدی مدنیت کی خلکو څه رکم تولیدات جوړول؟

ځواب : د پوستکو څخه یی جامی او ځپلی جوړولی او خاورین لوښی او کاڼی

سوال : د ویدی مدنیت شروغ په کوم کال او ختم یی په کوم کال وو؟

ځواب : ۸۰۰ نه شروغ تر ۱۲۰۰ نه ۱۰۰۰ پوری ختم شوي .

## اوستایی مدنیت

سوال : د اوستا مدنیت بنسیټ په کوم کال او په کوم ځای کی کیښودل شو ؟

ځواب : په بلخ کی زر کاله پخوا د میلاد څخه کیښودل شو .

سوال : اوستا مغنا څه ده ؟

ځواب : اوستا د قانون او هدایت په مغنا ده .

سوال : د اوستا محطویت د څه شی نه جوړشوی ؟

ځواب : د زردش د نیصحتونو نه جوړ دی .

سوال : زردش په کوم کال کی زیږیدلی  دی په څو کلنی کی ګوښه شوی او په  څو کلنی کی د زردش دین لاربښود شوی ؟

ځواب : زردش له میلا د محه په ۶۶۰ کال په بلخ کی زیږیدلی په ۲۰ کلنی کی ګوښه شوی او ۴۲ کلنی کی د زردشی دین لاربنود شوی .

سوال : زردش په څو دینونو غقیده درلوده ؟

ځواب : په دوو حدایانو یی غقیده درلوده .

سوال : اوستا کتاب په څو پوستکو لیکل شوی ؟

ځواب : په ۱۲۰۰۰ پوستکو لیکل شوی .

سوال : هغه رواجونه چی په اریایانو کی رواج لرې او اوس هم رواج لرې کوم دی نومونه یی ولیکی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : د اس ځغلولو لوبه ، د نوي کال د جیشن اتنونه ، موسیقی او داسی نور

## د لرغونی افغانستان اساطیری تاریخ

سوال : د دې کورنۍ لومړنی واکمن څوک وه ؟

ځواب : د دی کورنۍ لومړنی واکمن کیومرث وو .

سوال : د پیشدادیانو لومړنی واکمن څوک وو؟

ځواب : نامتو پاچا یما (جمشید ) وه .

سوال : بخدی ښار د چا لخوا جوړ او څه خوصوصیات یی درلودل ؟

ځواب : د بخدی ښار د یما لخوا جوړ شو او خوصوصیات یی د اوبو ډنډونه ، اس ځغلولو ډګر ،د کلیو او کورونو لپاره یی وړ سیمی یی جوړی کړی .

## دویمه کورنۍ د کیانیانو واکمنی

سوال :  د کیانیانو لومړنی واکمن څوک دی ؟

ځواب : کیقباد دی .

سوال : د کاوی مغنا څه ده ؟

ځواب : کاوی په ویدی او اوستایی متنونو کی د یو مشر او امیر مغنا کارول شوی .

سوال : د کیانیانو دویم واکمن څوک وو او چا سره یی جګړی وکړی او د خپلی واکمنی لپاره یی څومره قربانی ورکړی دی ؟

ځواب : دویم واکمن یی کیکاوس و د هغه چا سره جګړی وکړی چی د اریایی کلتور او مدنیت مخالفیت یی کاوه او رب النوغ(اناهیتا ) ته یی د ارزیفیته په غره کی سل اسونه ، زرغویان او لس زره پسونه یی قربانی کړل

سوال : د کیکاوس غوره وزیر څوک وو؟

ځواب : پوره جیره یا اوشنر وه .

سوال : د کیکاوس څخه وروسته څوک پاچا شو ؟

ځواب : سیاوش پاچا شو .

سوال : سیاوش د چا لخوا وژل شو ؟

ځواب : د تورانیانو لخوا وژل شو .

سوال : د اوستا په متنونو کی څوک د هیواد جوړونکی په نامه یاد شوی ؟

ځواب : کیخسرو

## دریمه کورنۍ اسپه کورنۍ

سوال : دې کورنۍ ته ولی اسپه کورنۍ وایی ؟

ځواب : ځکه چی د دی کورنۍ د هر واکمن د نامه په اخیر کی د اسپه کلیمه راغلی .

سوال : د دی کورنۍ لومړی ټولواک څه نومیده .

ځواب : لهراسپ نومیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د زردښ ۱۰۵ وینا د ګشتاسپ اړه څه وه ؟

ځواب : ای ښه اروی سورا اناهیتا زما سره مرسته وکړه چې د لهراسپ زړور ځوی دی ته وهڅوم چې د ایین پر بنسټ فکر وکړی او د ایین پر بنسټ خبری وکړی او د ایین پر بنسټ کار وکړی

سوال : د اوستا کتاب د چا امر ولیکل شو ؟

ځواب : د ګیشتاسپ په امر د غوایی په ۱۲۰۰۰ پوستکو ولیکل شوی .

سوال : ګشتاسپ په کوم ځای کی او څه یی قربانی کړل ؟

ځواب : د فردذادنا سیند په شاو خوا کی سل اسونه زرغوایان او اوولس زره پسونه یی د اناهیتا په نامه قربانی کړل .

سوال : اسفندیار د چا ځوی دی او د بلخ په اورتون باندی نیزه ودروله مغنا یی څه وه ؟

ځواب : اسفندیار د ګشتاسپ ځوی دی او مغنا یی د خپلی سیمی څخه په میرانی دفاع او د پردیو مخنیوی وو .

سوال : د دې کورنی وروستنی واکمن څوک وو ؟

ځواب : اسفندیار وو .

## هخامنشیانو واکمنی

سوال : د هخامنشی واکمنی بنسټ د افغانستان په کوم ځای کی او په کوم طرف کی کیښودل شو ؟

ځواب : د افغانستان د لویدیځو کرښوهاخوا کیښودل شو .

سوال : هخامنشی واکمنی بنسټ ایښودونکی څوک وو ؟

ځواب : کوروش وه

سوال : د هخامنشی واکمنی پر مهال د افغانستان سیاسی خالت څنګه وو ؟

ځواب : دا مهال افغانستان مرکزی دولت او واخده سیاسی وکمنی نه وه .

سوال : کوم هخامنشی واکمن د افغانستان یو شمیر سیمی په کوم کال تر خپلی ولکی لاندی راوستی ؟

ځواب : کوروش د میلاد څخه د مخه په ۵۶۹ کال کی سیمی ونیولی .

سوال : د کوروش څخه وروسته څوک واک ته ورسید او مصر فرغون ته چا ماتی ورکړه ؟

ځواب : د ده زوی کمبوجیه واک ته ورسید او مصر فرغون ته یی ماتی ورکړه .

سوال : څومره سیمی د هخامنشی واکمنانو تر واک لاندی وی ؟

ځواب : ۲۱ سیمی

سوال : هخامنشی واکمنی نامتو واکمنان څوک وو نومونه یی ولیکی ؟

ځواب : لومړی داریوش ، خشیار شاه ، دویم داریوش ، اردشیر او یو شمیر نور .

سوال : د هخامنشی واکمنی د چا لخوا او په کوم کال کی د مینځه لاړه ؟

ځواب : ۳۳۱ کاله د مخه میلاد یونانیانو د مینځه یووړه

## دویم د لرغونی افغانستان او یونانیان

سوال : سکندر مقدونی کومه امپراتوری د مینځه یووړه ؟

ځواب : د هخامنشیانو واکمنی یی د مینځه یووړه .

سوال : دویم داریوش د چا له خوا ووژل شو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : د بسوس له پلويانو له خوا ووژل شو .

سوال : کله چې سکندر مقدونی د باختر په لور وخوځید په هرات کی څه رامینځته شو ؟

ځواب : په هرات کی خلکو پاڅون وکړ او په پایله کی د اناکیسپ په نامه یو یونانی قومندان وژل شو .

سوال : د سکندر تر مړینی وروسته یونانی امپراتوری د کوم برخلیک سره مخامخ شوه ؟

ځواب : د واک پر سر د یونانی قومندانانو تر مینځ ډیری جګړی وشوی .

سوال : د سکندر څخه وروسته یونانی امپراتوری په برخو وویشل شوه ؟

ځواب : په دریو لویو مرکزونو وویشل شوه .

سوال : کوم لاملونه وو چی په باختر کی دیوتس ته یی د خپلواکی زمینه برابره کړه په کوم کال کی ؟

ځواب : د بطلیموس او سلیکوس تر مینځ پر له پسی جګړو دیوتس ته د خپلواکی زمینه برابره کړه په ۲۵۵ کال تر میلا مخکی .

سوال: د اوسنی هرات بنسټ چا کیښود ؟

ځواب : مقدونی سکندر د اریا سکندریی په نامه ښار بنسټ کیښود چی اوسنی هرات نومیږی .

سوال : د هرات ، سیستان او کندهار نیولو وروسته مقدونی سکندر د افغانستان کومی سیمی ونیولی ؟

ځواب : د هلمند په دواړو څنډو پرتی سیمی یی ونیولی .

سوال : د باختر پخوانی واکمن بسوس د سکندر پر لښکرو تر کوم کال پورې دوام وکړ ؟

ځواب : ۳۲۷ کاله پخوا تر میلا دوام وکړ .

سوال : مقدونی سکندر په باختر کی د کومی انجلی سره واده وکړ ؟

ځواب : د رخشانی په نامه انجلی سره یی واده وکړ .

سوال : مقدونی سکندر په څو کلنی او په کوم ځای کی مړ شو ؟

ځواب: ۳۲ کلنی کی په بابل کی مړ شو .

## موریایان

سوال : د موریایانو لومړی واکمن څوک او د هند په سیمو یی په کوم کال واکمنی پیل کړه ؟

ځواب : چندراګوپتا او د میلاد څخه ۳۲۴ مخکی د هند په سیمو واکمنی پیل کړه .

سوال : چندراګوپتا د افغانستان ختیځی سیمی د کوم یونانی واکمن څخه ونیولی ؟

ځواب : د سلیکوس څخه اول باختر بیا کابل ونیولی .

سوال : د یونانی واکمن چندراګوپتا سره تر کوم سرحد پوری جګړه ورسوله ؟

ځواب : د سیند نه تر سنده پوری ورسولی .

سوال : یونانی واکمن چندراګوپتا ته کومی سیمی پریښودلی ؟

ځواب : کندهار ، ارکوزیا ، ګردوزیه پریښودلی .

سوال : چندراګوپتا په کوم کال مړ او د چندراګوپتا څخه وروسته څوک واک ته ورسید ؟

ځواب : په ۳۰۰ کال پخوا تر میلاد مړ شو او د ده زوی پندوساره واک ته ورسید .

سوال : پندوساره د یونانی واکمن څخه څه غوښتنی وو او څه قیسم ځواب یی تر لاسه کړ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : پندوساره یو طبیب ، خواړه شراب ، انځر غوښتی وو خو هغه یی په ځواب کی وویل خواړه شراب او انځر به درولیږم خو زموږ په قانون کی د طبیب خرڅول نشته .

سوال : کوم لامل د دې سبب شو چی یونانی او هند کلتور ترمینځ د کډیدو او یوځای کیدو زمینه برابره شوه ؟

ځواب : سوداګریزې اړیکي .

سوال : د پندوساره څخه وروسته د ګوپتایی کورنی کوم نامتو واکمن واک ته ورسید او کوم دین ته یی ډیر خدمتونه وکړه ؟

ځواب : اشوکا واک ته ورسید او د بودایی دین لپاره یی خدمتونه وکړل .

سوال : په کوم کال د ګوپتایی کورنی لاسونه د افغانستان څخه لند شو ؟

ځواب : ۲۵۵ کاله پخوا تر میلاد .

## باختری خپلواک دولتونه

سوال : باختر خپلواک دولت بنسټ اینودونکی څوک او د سلوکیدیانو څخه په کوم کال واکمنی اعلان کړه ؟

ځواب : لومړی دیودیتس او په ۲۵۵ کاله د مخه میلاد یی خپلواکی اعلان کړه .

سوال : د لومړی دیوتس د واکمنی پر مهال کومی سیمی د ده واک لاندی وی او په څوم کال مړ شو ؟

ځواب : سغد ، مرو ، بلخ ، تخار سیمی او په ۲۵۰ کال پخوا تر میلاد .

سوال : د لومړی دیوتیس څخه وروسته څوک واک ته ورسید او تر کوم کاله پوری یی د باختر په سیمو واکمنی وکړه ؟

ځواب : د ده زوی دویم دیودتیس او ۲۳۰ کاله پخوا تر میلاد یی د باختر په سیمو واکمنی وکړه .

سوال : د سلوکیدیانو په وړاندی کوم دولتونه سره متخد شو او د چا لخوا په کوم کال د دیودتیس کورنی د مینځه لاړه .

ځواب : دوه نوي خپلواک دولتونه سره متخد شو او په ۲۲۰ کاله پخوا تر میلاد یو تن چی ای تدیوم نومیده دا کورنی یی د مینځه یوړه .

سوال : د پارت دولت د چا لخوا له مینځه لاړ بیا یی په کومه واکمنی حملی وکړي او ای بی تیدیوم مرکز زریاسپ د چا لخوا څومره وخت لپاره معاسره وو او دا معاسره څنګه ماته شوه ؟

ځواب : انتیکوس لخوا د منځه لاړ او د باختر په واکمنی یی خملی پیل کړی دا مرکز د شامی واکمن لخوا مغاصره وو کله چی د دواړو دولتونو تر مینځ جوړه وشوه دا مغاصره ماته شوه .

سوال : د ای تیدیوم څخه وروسته څوک په کوم کال واک ته ورسید کومی سیمی یی د خپلی واکمنی سره یو ځای کړی او کوم نوی ښارونه یی جوړ کړل ؟

ځواب : د ده زوی دیمتروس په ۱۹۰ کاله پخوا د میلاد څخه اوسیمی یی تاکسیلا کاتیاوار ، موریاته او ښارونه یی کلات ، سیالکوټ او پیتاله .

سوال : دیمتروس په کوم کال د چا لخوا د مینځه لاړ ؟

ځواب : ۱۸۱ کاله پخوا تر میلاد د خپل یو قومندان له خوا د مینځه لاړ .

سوال : د ایوکراتید په کوم کال د خپلی واکمنی مرکز کاپیسا ته ولیږدول ؟

ځواب : ۱۳۵ کاله پخوا تر میلاد څخه .

سوال : د ایوکراتید څخه وروسته څوک واک ته ورسید د یونانی کورنی وروستی واکمن څوک او د چا لخوا د مینځه لاړ ؟

ځواب : د ده زوی هیلو کلس همدا وروستی واکمن دی د ساکهانو لخوا د مینځه لاړ .

## د یونان ـ باختري مدنیت ځانګړتیاوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د هغو مورخینو څیړونکو نظرونه واضع کړی چی د افغانستان په اړه یی ورکړی دی ؟

ځواب : انګلیسی نامتو مورخ تایبنی افغانستان د لرغونو مدنیتونو د یو ځای کیدلو ټاټوبی په نامه یاد کړی ؛ جاپانی مورخ ماوریز یوتوزی افغانستان د سوداګریزې څلور لارې نوم ور کړی ؛ غلامه خبیبی افغانستان د لرغونو مدنیتونو د زانګو په نامه یاد کړی .

سوال : یونانی باختر ولی د دوو مدنیتونو تولګه ده ؟

ځواب : ځکه چی یو افغانستان او سیمی ته رارسیدلی مدنیت او بل یی په باختر کی د ځایی خلکو مدنیت و چی د لرغونو اریایی مدنیتونو پر بنسټ یی وده کړی وه .

سوال: یونانیانو په خپل هیواد کی یو پر بل پسی د لوړو فکرونو او اندونو نامتو پراونه تیر کړی د دی پړاوونو د فلسفانو نومونه واخلی ؟

ځواب : هیراکلیت ، افلاطون ، بطلیموس ، او نور .

سوال : یونانیانو څنګه خپلی لاسته راوړنی نورو سیمو ته لیږدولی دی ؟

ځواب : یونانیانو له خپلو فتوخاتو سره یو ځای خپل مدنی لاسته راوړنی هم له ځان سره تر واک لاندی سیمو ته لیږلی .

سوال : یونانی مغمارانو د غسکری کوټونو لپاره څه قیسم ځایونه انتخابول نکونی یی ولیکی ؟

ځواب : داسی ځایونه چی د دوو یا دریوو خواوو په د طبیغی موانغو له خوا ساتل کیدل .

سوال : د یونانیانو هنر نوری بیلګی چی د افغانی هنرمندانو په مټ یی وده کړی کومی دی ولیکی ؟

ځواب : پژي جوړول د یونانی هنر یو بیلګه ده چی د لرغونی افغانستان کی یی د افغانی هنرمندانو په مټ یی زیاته وده وکړه .

## د یونان باختري پیر یو نامتو ښار

سوال : د تخار ، کوکچی او اموسیندونو د یو ځای کیدو په برخه کی یو ښار څو کاله پخوا جوړ شوی او په څه نوم یادیږی؟

ځواب : ۲۳۰۰ کاله پخوا جوړ شوی او د ای خانم په نامه یادیږی .

سوال : د ای خانم مغنا څه او دا ښار چا جوړ کړی ؟

ځواب : ای خانم ازبکی ترکیبی نوم دی چی ای د میاشتی او خانم یی د میرمني مغنا ورکوي او دا ښار مقدونی سکندر جوړ کړي دی .

سوال : د یونان باختری پیر وادینو په منظور کومه طریقه استغمال شوی ده او د ودانیو ښکلا او سینګار لپاره یی د کومو موادو څخه کار اخیستی دی ؟

ځواب : د خینو ودانیو د ټینګښت په منظور تر اومو خښتو لاندی د پخو خښتو تهداب ایښودل شوی دی سکرو څخه یوه ټاکلی طبقه د لندہ بل د محنیوي لپاره جوړه شوی وه د ودانیو د سینګار او ښکلا لپاره یی د تباشیری ډبرو څخه کار اخیستی دی .

سوال : د ای خانم ښار مشخصات ولیکی ؟

ځواب : دا لرغونی ښار یو دیوال په وسیله اخاطه شوی دی چی اوږوالی یی ۱۵۰۰ ته او لوړوالی یی لس متره ته رسیده چی مینځنی برخه چی ۳۰۰ په ۳۰۰ متره کی ساحه لری او د لوی انګړ په څیر ځرګندیږي .

سوال : د ای خانم د کورونو او خونو نه کوم قیسم اثار په لاس راغلی دی ؟

ځواب : ډیر زیات شمیر اثاراو شواهد په لاس راغلی دی چی د یونان دباختری مدنیت د برم نمایندګی کوی .

سوال : هغه ډبر لیک چی د ای خانم څخه په لاس راغلی او د کلیر چوتس په نامه یاد شوی پکی څه وو ؟

ځواب : چی په وړوکتوب کی ښه دودونه ، په ځوانی کی پر ځان ویسا ، په پاخه سن کی ریښتنوالی او سخاوت ، په سپین ږیري توب کی ښه سلا ورکول بیا نو د مړینی په کی افسوس مه کوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سکهانو او پارتیانو د واکمنی پیر

سوال : د هیلوکلس څخه وروسته د یونان امپراتوری د کوم برحلیک سره مخامخ شوه ؟

ځواب : سیمه یزي واکمنی مینځته راغلی چې هر واکمن په یوې کوچنی سیمی واکمنی کوله .

سوال : دې ورو واکمنیو د کوم کال پوری دوام وکړ او هم واضغ کړی چې د افغانستان په سوېل کی د کومی کورنی واکمنی پیل شوه ؟

ځواب : دوی د ۱۰۰ کاله پخوا تر میلاده او د ساکه یا ساکانو په نامه واکمنی پیل شوه .

سوال : د ساکهانو د واکمنی بنسټ ایښودونکی څوک او چیری ته یی بنسټ کښودل شو ؟

ځواب : د ساکهانو په نوم یو ځواکمن قومندان د افغانستان په سوېلي سیمو کی د دی واکمنی بنسټ کیښودل لومړی واکمن یی هرایوس وو .

سوال : هرایوس د خپلی واکمنی په لنډه موده کی خپل بریدونه تر کوم ځایه ورسول او کومی سیمی یی تر خپلی واکمنی لاندی راوستی ؟

ځواب : د تاکسیلا سیند او بولان هاخوا پوری او د یونان باختری امپراتوری سوېلی او سوېل ختیځی سیمی یی تر خپل کنترول لاندی راوستی .

سوال : د ده څخه وروسته څوک په څوم کال واک ته ورسید دې واکمن څه قیسم مسکوکات درلودل ؟

ځواب : مایوس ۷۲ کاله پخوا تر میلاده او ۷ دوله مسکوکات د لرغونپوغانو لاسته ورغلی .

سوال : د مایوس څخه وروسته د دې کورنی کوم واکمنان واک ته رسیدلی او تر کوم کال پوری یی واکمنی کړی ؟

ځواب : دوه تنه میراث ورونکی پیژندل شوی او ۵۰ کاله پخوا تر میلاده یی پایښت موندلی دي

## د کوشانیانو امپراتوری

Zakria Khalim

سوال : کوشانیان څوک دی او دوی د خپلی امپراتوری بنسټ چیرته ایښی دی ؟

ځواب : د کوشانیانو نوم د کوشان له کلمی اخیستل شوی چی کوشان د یو چی قومونو یو قوم دی د کوشانیانو د واکمنی په پیل کی بلخ او دري ولایتونه سره یو ځای شو او د یوی نوي امپراتوری بنسټ یی کیښود .

سوال : د کوشانی امپراتوری بنسټ ایښودونکی څوک ، کومی سیمی یی د خپلی واکمنی لاندی راوستی دی ، مخکی د پاچاهی څخه یی کومه وظیفه لرله او څو کاله یی واکمنی کړی ؟

ځواب : کجولاکدفیسس وو ، د یونانی دري ولایتونه یی تر خپلی ولکی لاندی راوستی و ،د قوم مشر وه او ۴۰ کاله یی واکمنی وکړه .

سوال : د کجولاکدفیسس څخه وروسته څوک واک ته ورسید ؟

ځواب : د ده زوی ویماتکتو .

سوال : د ویماتکتو څخه وروسته څوک واک ته ورسید او د خپلی واکمنی خدود یی ترکومه ځایه وروسول ؟

ځواب : د ده زوی ویما کدفیسس چی په سوېل کی د هیواد خدود یی تر کنګا سیند پوری ورسول .

سوال : د کوشانی امپراتوری په اړه نوی مغلومات د کوم ځای او څنګه په لاس راغلی سره د بیلګی یی ولیکی ؟

ځواب : د رباطک له ډبر لیک څخه په لاس راغلی دا په تخار او بغلان ولایتونو کی پیداشوی .

سوال : د کوشانیانو نامتو واکمن څوک د چا ځوی او د خپلی واکمنی خدود یی کومه ورسول ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : نامتو واکمن لوی کنشیکا د کجولاکدفیسس زوی او د خپلی واکمنی خدود یی ختیځ خواته هندوستان ، بنارس او لویدیځ حوا ته یی د پارتیانو امپراتوری پوری ورسول .

سوال : د کوشانیانو پر له پسی مهمو امپراتوریو نومونه واخلی ؟

ځواب : کجولاکدفیسس ، ویماتکتو ، ویما کدفیسس ، کنشیکا ، هو ویشکا او واسودیوا وې .

سوال : د کوشانی امپراتوری د نړیدو لاملونه ولیکی ؟

ځواب : پوره مغلوم نه دی خو د سیمه یزو ځواکونو سر غړاوی ، او په پر پسی بریدونه د دی لامل شو .

## بګرام د کوشانی ستری امپراتوری

سوال : کوم کوشانی امپراتور د بګرام سیمه دوبنی پلازمینه وټاکله ؟

ځواب : کنشیکا .

سوال : د کوشانی امپراتوری ټوله سیمه د ختیځ نه تر لویدیځ پوری او شمال نه تر سوېل پورې سرخد یی تر کوم ځایه پوری وه ؟

ځواب : ختیځی کرښی یی د خو قند یارکند نیپال څخه پیل کیدی بیا تر لویدیځو کرښو اصفغان او سیستان پوری رسیدې ، او شمالی سرخدونه یی له سیر دریا ، خوارزم او سغد څخه پیل کېدې او سوېل کی د پوټالی پوترا ، سری چامپا او هند سمندر پوری رسیدې .

سوال : د بګرام سپړنی په کوم کال د چا لخوا وشوی ؟

ځواب : لومړی ځل لپاره په ۱۹۳۷ زیږدیز کال د فرانسوی لرغونپوهانو وشوی ګیرشمن وه .

سوال : د بګرام سپړونو څخه تر لاسه شوو اثارو نومونه واخلی ؟

ځواب : طلایی مسکوکات ، غاجی اثار ، د لاکو څخه جوړی شوی صوندقچی ، برونزی ارزښتمن وسایل او نور .

## دویم هډه د کوشانی امپراتوری کلتوری پلازمینه

سوال : پخوانی پوهانو د لرغونی افغانستان ختیځی سیمی په څه نوم یادی کړی او دعه سیمی تر کومه ځایه رسیدی ، یونانی موریخ هیرودت او سترابون د کنداهار سیمه په خپلو اثارو کی د څه په نامه یاده کړی ؟

ځواب : د کنداهارا په نامه ، چی د اوسنی هند تر شمالی څنډو پوری رسیدلی ، او دواړو د کنداهارا سیمه د کنداریس په نامه یاده کړی .

سوال: د یونانی باختری دورې خکمارانو په خپلو اثارو کی دې منطیقی ته کوم نوم ورکړی دی ؟

ځواب : ګنداراتی او ګنداروا .

سوال : د ګنداهارا یو ستر فرهنګی مرکز د څه په نوم یادیده او په پخوانیو متنونوکی د څه په نامه یاد شوی او د کوم دین د تبروک او غبادت ټاتوبی و ؟

ځواب : د هډی په نامه ، د هیلو په نامه ، د بودایانو دین ټاتوبی وو .

سوال : لومړنی چینایی لرغون پوهانو په کومو کلونو کی د هډی په اړه مغلومات را ټول کړل ؟

ځواب : لومړی فاهیان ۴۲۰ ز کال ، دویم سوینګ په ۵۲۰ ز کال ، دریم زایرهوونتسنګ په ۶۳۰ ز کال کی مغلومات را ټول کړل .

سوال : هډه ولی کوشانی امپراتوری کلتوری مرکز ګڼل شوی دی ؟

ځواب : تر ټولو لومړی جوت لامل د مناسبو شرایطو او اړینو امکاناتو شتون وو چی د کنشیکا د امپراتوری پر مهال برابر شو ،دویم لامل په بودیزم کی د بدلون او نوښت میځ ته راتلل په ګوته شوی او دریم لامل یی د ګنداهارا خلکو خلاقیت او فکری ظرفیت یاد کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم بامیان

سوال : تر هغه چې کنشیکا لا بودایي کیش نه و منلی دا مذهب په کوم حال کې وه ؟

ځواب : نوموړی مذهب د یوې مړ ژواندې غقیدې په توګه د هند په مخدوده کې پاتې وو .

سوال : د لرغونې یونان څخه راغلو هنرمندانو او ختیځو خیالاتو یو ځای والی په لاره کې تاکلی ستونزی موجودی وی دا ستونزی څنګه د مینځه لاړی چې په اساس یی کوم تمدون رامینځته شو ؟

ځواب : د افغانی هنرمندانو او ماهیرینو په واسطه دا ستونزی لرې شوی او د ګریکوبودیک تمدن رامینځته شو .

سوال : ګرګوبودیک تمدون په غیر د افغانستان نه نور کوم هیوادونه تر اغیزې لاندی راوستی وو ؟

ځواب : جاپان ، کوریا ، چین ، سریلینکا ، هند ، سیر دریا ، تاجکستان پورې تولی سیمی تر اغیزی لاندی راوستی وې .

سوال : د کومی غقیدې او څه ډول خلکو بامیانو ته د لیدو کتو په خاطر سفرونه کول ؟

ځواب : راهبان ، زایرین ، سیلانیان ، او بودایي غقیدې خلکو .

سوال : کوم چینایی زیارت کونکی په کوم کال د بامیانو د مجسمو په اړه ارزښمن معلومات لیکلی دی ؟

ځواب : فاهیان په ۴۰۰ ز کال .

سوال : په بامیانو کی د بودایی دین څومره خانکاوې درلودی څو تنه واغظین پکی د د بودایی دین د تبلغ لپاره ګومارل شوی و او څومره مدرسی یی درلودی او په هره مدرسه کی څو تنه شاګردان وو ؟

ځواب : څه نا څه زر خانکاوې وی چې پکی زر تنه واغظین د تبلغ لپاره ګومارل شوی و او په لسګونو مدرسی وی چی هرې مدرسی لږ تر لږه زرتنه شاګردان درلودل .

سوال: د فارس لرغونپوه الفرد فوشه په کوم کال د بامیانو ستړې مجسمې وڅیړل شوی په دی اړه مکمل مغلومات ولیکی ؟

ځواب : ۱۹۲۲ م کال ده په خپلو څیړونو کی دوه مجسمې چې یوه صلصال او بله د شامامه په نامه یادیدلی .

سوال : د بامیانو مجسمې په کوم کال د چا لخوا د مینځه لاړی ؟

ځواب : ۲۰۰۱ م کال کی د هغه وخت واکمن رژیم پر مهال د مینځه لاړی .

## کیداریان یا کوچنی کوشانیان

سوال : د کیداریانو لومړی واکمن څوک چیرته یی د چارو واکی تر لاسه کړه او ولی ورته کیداریان وایی ؟

ځواب : لومړی واکمن یی کیدار نومیده چې په بلخ کی یی د چارو واکی تر لاسه کړه ، ځکه چې د دی کورنی لومړی واکمن کیدار نومیده .

سوال : د کوشانی امپراتوری په لویدیځو څنډو کی سیمه یزو خپل سرو د کومی واکمنی سره اړیکی تینګی کړی ؟

ځواب : د ساسانی امپراتوری سره .

سوال : د ساسانی امپراتوری د افغانستان ځینی سیمی څه ډول ونیولی ؟

ځواب : کله به یی د افغانستان سیمه یزو واکمنانو سره د روغی جوړی له لاری او کله به یی په زور د خپلی سیمی غځولی .

سوال : د کیداریانو واکمن چا لخوا د بریدونو لاندی راغی چې د دی بریدونو له امله په کیداریانو باندی کوم اثر ولوید ه او کیداریان په کومو سیمو واکمنان شو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : په شمال کی د یفتلی قبایلو تر بریدو لاندی راغی ، له همدی امله کیدار د هندوکش لویدیځو سیمو ته خپل مرکز ولیږداوه او د کندهار او کابل په سیمو واکمن شو .

سوال : د کیداریانو او ساسانیانو تر مینځ څو کاله جګړې وشوې په اړه د ارمنستان یو مورخ فوستس څه لیکلی دی ؟

ځواب : اته کاله جګړې وشوې ، او فوستس لیکی چی په ۳۶۷ او ۳۶۸ ز کلونو کی د کیداریانو او ساسانیانو تر مینځ مخامخ جګړه وشوه چی ساسانیانو ته یی ماتی ورکړه .

سوال : د کیدار زوی پیرو د کوم کال نه تر کوم کال پوری واکمن و او د ده څخه وروسته څوک واک ته ورسید چی د دریمی کورنۍ وروستی واکمن وه ؟

ځواب : د ۳۷۵ نه تر ۳۸۰ ز کلونو پوری او د څخه وروسته ورهران یا بهرام واک ته ورسید .

## د یفتلیانو امپراتوری

سوال : یفتلیان د انګلیسی مورخ سراولف کارو په باور له کومه راغلی اوخپله لومړنی اداره یی په څوم کال او چیرته جوړه کړه ؟

ځواب : د مینځینی  اسیا نه د سوېل په لور راځیدلی او اداره یی په ۳۶۰ ز کال په تخار کی جوړه کړه .

سوال : یفتلیانو د کومو ساسانی واکمنانو سره جګړی کړی په کومو کلولو کی او اخیری نتیجه یی څه وه ؟

ځواب : لومړی جګړه په ۴۲۷ ز کال پیښه شوه ساسانی واکمن بهرام ګور سره دویمه یی ۴۳۸ ز کال کی یزدګرد سره پیښه شوه او نتیجه یی دا شوه یفتلی واکمن خاقان د خپلی سیمی څخه په کلکه دفاع وکړه او ساسانی واکمنانو ته یی ماتی ورکړه .

سوال : د یفتلی واکمن اخشنور په اړه مغلومات ولیکی چی هغه څه ترسره کړی ؟

ځواب: اخشنور تر پیرود سره تر جګړی وروسته وکړای شول چی د پخوانی اریانا یووالی بیا تامین کړی د هندوکش سوېلی سیمی یی تر خپل واک لاندی راوستی او زابل یی د یو مرکز په توګه وټاکل او د همغه خایه یی د نورو سیمو پلانونه جوړول .

سوال : تورمنه په خپلو مسکوکاتو کی څانته کوم لقب ورکړی وه د خپلی واکمنی خدود یی تر کومه خایه ورسول او په کوم کال مړ شوی اود ده څخه وروسته څوک واک ته ورسی ؟

ځواب : د تورمنه زابل امپراتور یاد کړی دی هند تر مرکزی سیمو یی ورسوله ۵۰۲ ز کال مړ شو او میهراکولا واک ته ورسید .

سوال : میهراکولا د خپلی واکمنی د پراختیا لپاره په چا بریدونه کړی او کومه کورنی یی باج ورکولو ته اړ کړه ؟

ځواب : په هند باندی او ګوپتایی کورنی یی باج ورکولو ته اړ کړه .

سوال : د یفتلی واکمنی نړیدو وروسته په افغانستان کی بله دوره پیل شوه د کوشان یفتلی په نامه د هغی دورې د واکمنانو نومونه واخلی ؟

ځواب : کابل شاهانو ، رتبیل شاهانو ، د بامیانو شیرانو ، د تګین شاهانو  وه .

## د اسلام د ظهور پرمهال د افغانستان وضع

سوال : د شپږمی میلادی پیړۍ پر ورستیو او د اوومی میلادی پیړۍ په لومړیو کی افغانستان د چا لخوا اداره کیدل ؟

ځواب : د ځایی امیرانو، کوشانی او یفتلی ځینو پاتی واکمنانو لخوا اداره کیدل .

سوال : افغانستان سیاسی پلوه د اسلام سپیڅلی دین را څرګندیدو پر مهال څه قیسم خالت درلوده او کوم شرایط وو چی سیمه یزو خکمتونو جوړیدو ته یی زمینه برابره کړی وه ؟

ځواب : ګډوډ خالت یی درلود په ختیځ کی د ګوپتا او په لویدیځ کی ساسانیانو دوو ځواکمنو امپراتوری د دی لامل شو چی سیمه یزو واکمنیو ته زمینه برابره کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د چین وتلی سیلانی هیونتسنک د افغانستان د هغه مهال سیاسی وضی په اړه څه ویلی دی ؟

ځواب : دا هېواد په بېلا بېلو اداری واخدونو ویشل شوی چې هره جغرافایی خوزه یی د خانګړی پاچا لخوا اداره کیږي .

سوال : په اوومه میلادی پیړی پر مهال په افغانستان باندی کومی کورنی خاکمی وی ؟

ځواب : زابلی رتبیل شاهان له مشهورو کورنیو څخه وو چی له کابل شاهانو سره یی بنی اړیکی درلودی او په غزنی او زابل یی واکمنی کوله .

سوال : په اوومه میلادی پیړی پر مهال د افغانستان خلکو په کومو دینونو غقیدې درلودی او دا دینونه د کومه راغلی وو ؟

ځواب : زردشتی کیش چی د بلخه یی سرچینه اخیستی وه او بودایی ایین چی د هنده یی سرچینه اخیستی ده .

سوال : د افغانستان په خلکو ولی هیڅ عادی او وروسته پاتی کلتور نشوکولای چی په دغو خلکو لاس بری پیدا کړی ؟

ځواب : د افغانستان د خلکو د هغه وخت کلتور د د ویدی او اوستایی تهذیب لویه برخه تشکیلوله څکه .

سوال : اخنب بن قیاس په کوم کال وروستی ساسانی واکمن ته ماتی ورکړه نوم یی څه و او د دې نه وروسته اسلامی لښکرې په کوم لوری لاړی ؟

ځواب ۶۵۱ ز کال دریم یزدګرد او بیا د افغانستان په لوری راغلی .

سوال : د کوم خلیفه په وخت کی اسلامی لښکرې د چا په مشرۍ د کابل تر پولو ورسیدې ؟

ځواب : دریم خلیفه خضرت غثمان رض او د غبدالله بن غامر په مشرۍ .

## د تمدون رامینځته کیدو څرنګوالی او ځانګړنی

سوال : تمدون  د کومی ژبی کلمه ده او مغنا یی څه ده ؟

ځواب : تمدون غربی کلمه ده چی د ښاری ژوند په مغنا ده  .

سوال : د تمدون په اړه ابن خلدون څه نظر ورکړی دی ؟

ځواب : تمدون د بدوی کلتورنو پر بنسټ  جوړیږي او د همدی بدوي کلتورنو تر بریدونو لاندی د منځه ځی .

سوال : ارنولد تاینبی د تمدون په اړه څه نظر ورکړی دی ؟

ځواب : د ننګونو او غبرګون په نظر د رامینځته کیدو لامل ګڼی .

سوال : ګوردن چایلد د تمدون په اړه څه نظر ورکړی دی ؟

ځواب : تول لرغونی تمدونونه د یو تاتوبی څخه راوتلی ګڼی لوموړی د مصر او بن النهرین او سند تمدمنونه وځیړل په پیله کی د تولو تمدونونو منشا د مصر څخه راوتلی وبلله .

سوال : د لومړنیو تمدنونو ځانګړني واضغ کړی ؟

ځواب : له میلاده کابو ۳۰۰۰ کاله وړاندې انسانانو د ښارونو په جوړولو بریالی شول ،ښارونه دینی ، فرهنګی ، تولنیز ، اقتصادی او سیاسی بدلونونو مرکزونه جوړ شول .

سوال : د لومړنیو مدنتونو منځ ته راتګ سره سیاسی او نظامی جوړښتونه څنګه مینځته راغلل ؟

ځواب : د سیاسی قدرت په ساتلو او د نورو سیمو د نیولو په موخه نظامی ځواکونه هم رامیځته شول .

سوال : د مدنتونو رامینځته کیدو سره اقتصادی ځواک پر بنسټ نوي تولنیز جوړښتونه څنګه رامنځته شو تشریخ یی کړی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : پاچاهانو ، لوړ پوړو ، روځانیونو ، سیاسی مشرانو د ټولنی د لوړی طبقی وګړي شول کروندګر او صنعتکاران په دویم پوړ ک او غلامانو د ټولنی په ټیټ پوړ کی ځای ومونډ .

سوال : په لومړیو مدنتونو کی دینی تشکیل څنګه وه ؟

ځواب : ځانګړی ارزښت یی درلوده .

## د بن النهرین تمدون

سوال : په نړی کی تر ټولو لرغونی مدنیت په کوم ځای کی او د رامینځته کیدو لامل یی څه وه ؟

ځواب : په بین النهرین کی او لامل یی دجلی او فرات سیندونو ښېرازه ځنډی وی .

سوال : د بین النهرین تر ټولو لرغونی ځای په څه نوم یادیږي د دې ځای وګړي چیرته ولیږدیدل او هلته یی کوم تمدون رامینځته کړ ؟

د تل حسونا په نامه ، بین النهرین ته ، د سومریانو په نامه تمدون جوړ کړل .

سوال : د سومریانو په استوګنځی کی کوم ښارونه وه نومونه یی ولیکی ؟

ځواب : اور ، اوروک ، کیش ، لاګاشس ، لارسا او وینپور دی .

## د بین النهرین سیاسی وضغ

سوال : د سومر ښاری دولتونه د چا لخوا اداره کیدل او مشران یی په څه نوم یادیدل ؟

ځواب : د کاهنانو لخوا چی مشران یی انسی بلل کیدل .

سوال : اکدی اقوامو سومری واکمن کیل ګمیش په کوم کال د مینځه یوړ د اکدی کورنی لومړی واکمن څوک او خپلی واکمنی ته یی تر کومه پراختیا ورکړه ؟

ځواب : ۲۴۰۰ د میلاد څخه وړاندی کال باندی ، سارګون وه او شمال پوری یی خپلو قلمراوو ته پراختیا ورکړه .

سوال : اقدی واکمن د چا لخوا د مینځه لاړ او هغه کورنی چی ده یی د مینځه یوړ څوکاله یی واکمنی وکړه ؟

ځواب : د یو قوم ګوتی لخوا او یوه پیړی واکمنی یی وکړه .

سوال : د اور په نامه واکمنی د کومو کردینو د یوځای کیدو څخه مینځته راغله او بیا دا واکمنی د چا لخوا د مینځه لاړه ؟

ځواب : د سومر او اکد سره یو موټی شول او دا واکمنی یی جوړه کړه چی بیا د اغلامیانو لخوا د مینځه لاړه .

سوال : د بابلیانو واکمنی څنګه میځته راغله د دی واکمنی واکمن څوک وه او دی واکمن په خپلی واکمنی کی کوم کارونه سرته ورسول ؟

ځواب : د هیواد ډیری برخی سره یو موټی کړی او د بابلیانو په نامه یی ستروواکی یی را مینځته کړه او واکمن یی خمورابی وه او د وګړو لپاره یی یو قانون جوړکړ چی د خمورابی د قانون په نامه یادیږی .

سوال : د خمورابی تر مړینی وروسته په بین النهرین کی څه رامینځته شو ؟

ځواب : بلوواوی پیل شوی چی په پیله کی یی بابلیان د مینځه لاړل او نشوریان واک ته ورسیدل .

سوال : د اشوریانو لومړی واکمن څه نومیده او خپلو قلمراوو ته یی تر کومو سیمو پوری پراختیا ورکړه ؟

ځواب : سارګوت وه او مدیترانی مورګو پوری پراختیا ورکړه .

سوال : د اشوریانو وروستی واکمن په اړه مغلومات ولیکی ؟

ځواب : اشور بنپال وه چی ډیری سیمی یی تر ولکی لاندی راوستی او د اغلامیانو واکمنی ته یی د پای ټکی کیښود .

سوال : وروستی قوم چی د بین النهرین کی واکمنی وکړه وروستی واکمن یی څوک او د چا لخوا د مینځه لاړه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : کلدانیان چی د نویو بابلیانو په نامه هم یادیږي بخت نصر وه د هخامنشیانو لخوا د مینځه لاړه .

## د بین النهرین تمدون او فرهنگ

سوال : د بین النهرین خلکو د څه شی عبادت کاوه ، د دې خلکو دینی مراسم څنګه وو او خدای ج له طرفه دی خلکو ته کوم پیغمبر لیږل شوی ؟

ځواب : اسمان ، سپوږمی ، ستورو ، کرنی او داسی نورو ، قربانی کولای او په ګډه یی مذهبی سرودونه وویل ، خضرت ابراهیم غ حدای ج ورته ولیږل .

سوال : د کرنی په برخه کی دجلی او فرات سیندونو څه رول لوبولی ؟

ځواب : د کرنی د پراختیا او ودې بنستیز لامل و ، او غنم او اوریجی د بین النهرین مهم پیداوار وه .

سوال : د بین النهرین څخه قیسم لوحي تر لاسه شوي د دې لوخو سابقه څومره وه د دې لوحو لیکنه څه قیسم وه ، او په دی لوحو کی څه لیکل شوی وه ، او د نړی لرغونی کتابونه به کوم ځای را مینځته شوي ؟

ځواب : ختینی لوحی ، سابقه یی ۵۰۰۰ مخزیږ ته رسیږي ، لیکنه یی د ښوونی او روزنی ، د حدای ج غبادت ، خقوقو مسایل ، چګرو ، راکړې ورکړې او داسی نور وه ، په بین النهرین کی رامینځته شوی .

سوال : کوم غلم په بین النهرین کی پرمختګ کړی وه ، لامل یی څه وه ، د هغه ستورو نومونه واخلی چی دی خلکو په هغه وخت کی پیژندل ، د بین النهرین خلک د فرات او دجلی سیندونو څپو څه شی ته هڅول ، او په نتیجه کی څه رامینځته شو ؟

ځواب : نجوم پوهی ، لامل یی د ستورو غبادت وه ، اوس عطارد ، زهره ، مریخ ، میشتری او زخل ، اوبه خورسیستم د تنظیم او د خپلو ځمکو د پولو ټاکلو په موخه فکر وکړی په دول لومړی هندسی او ریاضیکی فغالیتونه مینځته راغلل .

## بابل د لرغونی نړی ستر او پرتمین ښار

سوال : بابل ښار څوکاله پخوا شتون درلود او د کوم پاچا په واکمنی یی پراختیا وموند ه ؟

ځواب : د موریخنو په اند دغه ښار له ۴۰۰۰ مخزیږد راهیسی شتون درلود ، د خمورابی په واکمنی کی .

سوال : د بابل ښار په کوم کال ویجاړ د چا لخوا او د چا لخوا پلازمینه شوه او کوم واکمن پراختیا ورکړه ؟

ځواب : ۶۸۹ مخزیږد کی د اشوریانو له ویجاړ ، د کلدانیانو لخوا پلازمینه شوه ، او بخت نصر ورته پراختیا ورکړه .

سوال : بابل ښار په کوم کال هخامنشوی واکمن کروش ونیو ؟

ځواب : په ۵۳۹ مخزیږد کی .

سوال : د بابل ښار مصاخت ، برجونه ، دروازې ، او د دې ښار د دیوالونو اوږوالی څومره او د دې ښار ودانی څنګه جوړی شوي او څنګه ښکلی شوي ؟

ځواب : مصاخت یی ۵۲۰ کیلومتره اټکل شوی ، ۲۵۰ برجونه ، ۱۰۰ داروزی ، او دیوالونه یی ۹۰ کیلو متره اوږده وه ، ودانی یی د ډبرو جوړه وه او د دی ډبرو مخ په سفالی رنګ پوښل شوي وه او د دې ودانی باندینی لوری د ښکلو انځوریزو کاشیو په واسطه پوښل شوی وه .

سوال : د بابل په ښار کی چابوتان مات کړل کړه بیا د کوم برحلیک سره مخامخ شوه ؟

ځواب : خضرت ابراهیم غ مات کړل ، او د بابل د خاکم په امر په اور کی واچول شو .

## د مصر تمدن

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : په مصر کی د بشري تمدون رامینځته کیدو لامل څه و ؟

ځواب : د نیل سیند وه .

سوال : د ۵۰۰۰ نه تر ۳۲۰۰ مخزیږد کال دې دورې ته کومه دوره وایی په دې وخت کی د نیل په وادی کی څرنګه خکمتونه و په دی دوره کی څه شی وده وکړه او قانون د څه شی په اساس جوړ شو ؟

ځواب : پیر له تاریخ وړاندی دوره بلل کیږي ، مرکزي واکمنی نه وه ، هنر وده وکړه ، د دودونو پر بنسټ قانون جوړ شو .

سوال : په کوم کال دوه واکمنی سره یو ځای شوی چی مرکزی واکمنی یی جوړه کړه د دې واکمنی بنسټ ایښودونکي څوک و؟

ځواب : ۳۲۰۰ مخزیږد کی د سویلي او شمالی واکمنی سره یو ځای شوی ، لومړی مینز وه .

سوال : لرغونی واکمنی د چا د رسیدو سره پیل کیږي په دی واکمنی کی څو کورنی واک ته رسیږي د واکمنی سیستم څرنګه وه تشریخ یی کړی او دی واکمنی تر کوم کال پوری دوام وکړ ؟

ځواب : د مینز د رسیدو سره ، ۶ کورنی واک ته رسیږي ، سیستم یی دینی وه ، ۲۳۰۰ مخزیږد پوری دوام وکړ .

سوال : د لرغونی واکمنی دوهم پیر څو کاله دوام وکړ دې دورې ته کومه دوره وویل کیږي او کوم خلک پکي ډیر ځواکمن وو ؟

ځواب : دوه پیړی یی دړام وکړ ، دې دورې ته فیوډالی دوره وایی او نجیبان پکی ځواکمن وه .

## مینځینی دوره

سوال : مینځینی دوره د کوم کال څخه پیل کیږي کومه کورنی پکی واک ته رسیږي او په دی دوره کی ځواک د چا په لاس کی وه ؟

ځواب : ۱۲۰۰ مخزیږد نه پیل ، یولسمه کورنی پکی واک ته رسیږي ، او ځواک د کوچنیو واکمنانو په لاس کی وه .

سوال : کله چی ۱۲ کورنی واک ته رسیږی څوک یی د پوره ځواک خاوندان کړل ، د دې ښیګڼه څه وه ، او د دې کورنی د مینځه تلو سره مصر کوم برخلیک سره مخامخ شو ؟

ځواب : فرغونان یی پوره ځواک خاوندان کړل ، ښیګڼه یی غدالت یی ټینګ او خلک یی د اصلیت او توکم له توپیر پرته په کارونو وګومارل ، ګډوډیو او بهرینو بریدونو دورې ته ورننوت چی د دوه پیړیو زیات دوام وکړ .

سوال : کله چی د مصر خلکو هکسوسیانو په وړاندې پاڅون وکړ د دې پاڅون اتل څوک او کومي کورنی پوري تغلق درلوده ؟

ځواب : د دې بریا اتل د اتلسمي کورنی موسس لومړی اهموز وه .

## د امپراتورۍ دوره

سوال : دا دوره د کوم کال څخه تر کوم کال پوري وه د دې دورې پیل د کوم واکمن سره کیږي ؟

ځواب : ۱۵۸۰ نه تر ۱۰۹۰ تر میلاد وړاندې کال پوری او د اهموز واک سره .

سوال : دریم توتمس په دوره کی کومی سیمی د مصر سره یوځای شوی مصر په کوم کال اشوریانو ونیو او کوم کال پوري دوام وکړ ؟

د دجلی او فرات تر مینځ سیمه ، ۲۷۰ مخزیږد کی اشوریانو ونیو ، ۶۶۲ مخزیږد پوري دوام وکړ .

سوال : په مصر کی څو کورنیو واکمنی کړې چی ګڼ شیمر فرغونیان پکی واکمنی ته رسیدلی و او خضرت موسی غ د کوم فرغون په وخت کی راڅرګند شو ؟

ځواب : شل کورنی ، د دوهم رامسس په وخت کی .

# د مصر تمدون او فرهنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : په مصر کی د لرغونی دورې د امپراتوری د مصر چارې څنګه اداره کیدې ؟

ځواب : د مذهب له لارې اداره کیدې .

سوال : د مصر خلکو مشهور خدایان کوم وو او کومی چارې یی ورپورې ترلی وې ؟

ځواب : امون چی د لمر رب النوع چی د عدالت ، ریښتینولی ، او د کاینانو د اخلاقی چارو ساتندوی وه ، سیروس چی د نیل رب النوع چی د نباتاتو خدای ګڼل کیده مینځته راغلل .

سوال : د هکسوسانو یرغل پر مهال مخکنی دین او د مړو سره به یی کوم دینی مراسم ترسره کول ؟

ځواب : دا دین په خرافاتی دین بدل شو ، خلکو د پیسو په مقابل کی پاپیروس لیکل شوی بښنلیک اخیسته او د مړی تر څنګ یی په قبر کی اښوده .

سوال : په ۱۳۷۵ م کال کی د چا لخوا پاڅون وشو چی څوړ دین له مینځه لاړ پر ځای یی کوم دین مینځته راغې ؟

ځواب : امینوپهت لخوا ، نوې دین مینځته راغې چی د اتون د خدای د لمر لرغونی نوم عبادت کیدل .

سوال : د لرغونی مصر د کلتورې میراثونو نومونه ولیکی او د مصر خلکو په کومو خدایانو عقیده درلوده ؟

ځواب : اهرامونه ، موممیایی جسدونه ، عبادت ځایونه ، مقبرې ، مجسمې ، انځورونه ، ډبرلیکونه او مذهبې سرودونه دې ، او غقیده یی لمر سپوږمی ، نیل ، او ځینی خیوانات یی سپیڅلی بلل .

سوال : د پورتنیو خرافاتو په مقابل کی الله ج وخدانیت لپاره فرعونیانو ته یی کوم پیغمبر ولیږه او کوم عبادت یی کاوه ؟

ځواب: موسی غ او د وررو هارون غ په پیغمبرې مبغوث شو ، او د واخد خدای ج عبادت یی کاوه .

سوال : په اول سر کی مصریانو په کومه طریقه او وروسته څپل مړی خحول ؟

ځواب : اول سرکی یی په توتو پوښل او وروسته یی بیا مړی مومیایی کول .

سوال : په ټولنیز خالت یی لنډ مغلومات ولیکی ؟

ځواب : مصری ټولنه په واقیغت کی د څلورو پوړیو څخه جوړه شوې وه په هره پوړی کی یی افراد و او په سر کی یی فرغون ځای درلود د پوړیو ترمینځ د ژوند توپیر ډیر نه وه او ټول وګړي د قانون په وړاندی برابر وه .

سوال : د اقتیصادی سیستم لپاره لنډ مغلومات ولیکی ؟

د مصر اقتصادی بنسټ پر کرنې او مالداری ولاړ وه کرنې ډیره پراختیا موندلی وه او خمکو ښه خاصل کاوه .

سوال : د ادبیاتو په اړه لنډ مغلومات ولیکی ؟

ځواب : مصریان لومړی خلک وو چی انځوریز لیک یی رامینځته کړ ، او د دیمو تیک په نامه هم یو لیک دود و چی د مینځی پوړ وګړو او سوداګرو ورڅخه کار اخسته .

سوال : د هنر او مغماری په اړه لنډ مغلومات ولیکی ؟

ځواب : د مصر تمدن  تر ډیره هغو کلتوری میراثونو ته شهرت ورکړی چی د یادګار په ډول پاتی دی دغه اثار له اهرامونه غباتخایونه مجسمو څخه غبارت دی .

## د فارس تمدن

سوال : کله چی اریایان لویدیځ ته ګډه شول چیرته میشت شول ، په کومو نومونو یاد ، او د کوم تمدن بنسټ یی کیښود ؟

ځواب : په اوسنی ایران په شمال او په فارس کی میشت شو ، په ماد او فارس نوموړو یاد شول ، د فارس تمدن بنسټ یی کیښود .

سوال : د فارس نامتو سیمی کومی وی نومونه یی ولیکې او دی سیمو وګړو د کومو سیمو وګړو سره اړیکی درلودې ؟

ځواب : سیالک ، ګوران ، مارلک ، جیروفت او شهر سوخته د فارس نامتو سیمې وې ، او د مندیګک ، موهنجودارو او هړپی اوسیدونکو سره یی اړیکی درلودی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د میلاد څخه ۳۰۰۰ کال مخکی په فارس کی کوم تمدن رامینځته شو او د ایلامی واکمنی مرکز کوم ښار وه ؟

ځواب : د ایلام تمدن او ښار یی شوش وه .

سوال : د هیرودیت په وینا په کومه پیری کی د ماد تمدن بنسټ کیښودل شو د چا لخوا ؟

ځواب : د اتمې مخزیږدې پیری په وروستیو کی د دیاکو لخوا .

سوال : د ماد واکمنی د چا لخوا په کوم کال د مینځه لاړه په نتیجه کی څوک واک ته ورسید او چا یی مشری کوله ؟

ځواب : پارسیانو په ۵۵۳ مخزیږد کی ، هخامنشیان واک ته ورسیدل ، او مشری یی کوروش کوله .

سوال : د پارسیانو د دین ، هنر ، مغماری ، صنغت او د جمشید د تخت په اړه لنډ مغلومات ولیکی ؟

ځواب : دین یی د څارویو ، ځمکی ، اسمان ، اوبو ، اور او ډیر مشهور یی د لمر غبادت کاوه ،هنراو مغماری یی خاورین لوښي او فلزی اثار وو ، صنغت یی د ختینو او فلزی لوښو په جوړولو مجسمه او د ډبرو پرمخ د انځورونو په کښلو کی ډیر مهارت درلود ، د جمشید تخت یی د هغه ښکلو ماڼیو مجموغه وه چی د هخامنشیانو په واسطه جوړې شوې وې .

## د هند تمدن

سوال : په ۱۹۲۴ ز کال کی لرغون پوهانو په هند کی کومی دوه سیمی لرغونی موندلی چی لرغونتوب یی ۳۰۰۰ مخزیود ته رسیږي ؟

ځواب : هړپه او موهنجودارو وي .

سوال : ۳۰۰۰ کال محکی د میلاد د هند خلک په څه بوخت وه ؟

ځواب: په کرنه او مالدارې او د میوه لرونکو ونو په روزنه بوخت وو .

سوال : د هړپه او موهنجودارو پاتی شونی موږ ته څه راښایی ؟

ځواب : د پخوخښتو څخه جوړ کورونه ، دوکانونه ، واټونونو شتون او دوه پوړیزو او د پراخه کوڅو لرونکی وو .

سوال : کله چی ۱۵۰۰ کاله پخوا تر میلاد اریایان هند ته ګډه شو په هند کی د خلکو څو طبقی رامینځته کړی د طبقو نومونه څه وو او په هره طبقه کی کوم خلک شامل وو ؟

ځواب : څلور طبقی ، برهما (روخانیون) کشتاتریان (جګړه ماران) ویسا (سوداګر او کروندګر) او سودرا (کارګران ) .

سوال : د اریایانو د بد خیلافی له وجی په هند پرله پسی کومو خلکو حکمتونه کړی دی؟

ځواب : هخامنشی واکمن داریوش ، سکندر ، یونانیانو .

سوال : د هندیانو د دین ، غلم ،هنر او مغماری په اړه لنډ لنډ مغومات ولیکی ؟

ځواب : د طبیغت او خیواناتو لمنځانه کوله چی لوی خدایان یی اګنی او اندیرا وه ، علم یی په ریاضی او طبابت کی ډیر پرمختک کړی وه ۱ـ۹ پوری اغداد یی اغشاریه سیستم او نور .

## د چین تمدن

سوال : د چین تمدن د چین په کوم ځای کی رامینځته شوي ؟

ځواب : د هوانګو د سیند په غاړه کی .

سوال : په لرغونی چین کی لومړنی واکمنی په کوم کال او په څه نوم یادیږي د دورې مهمی تمدنی لاسته راوړنی څه وي ؟

ځواب : په ۱۵۰۰ مخزیږد کی د شیانګ په نامه ، او لاسته راوړنی یی د خط او کلیزې او د چینی لوښو جوړیدل وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : په چین کی دوهمه واکمنی کومه وه کوم کال نه یی تر کوم کال پوری دوام وکړ او د چا لخوا له مینځه لاړه ؟

ځواب : د چو واکمنی وه ، ۱۰۲۸ نه تر ۲۵۶ مخزیږد پوری دوام وکړ او د چه این په نامه قبیلو لخوا د مینځه لاړه .

سوال : شي هوانګ تي د خپلی وکمنی په وخت کی د چین د ودې او نیکمرغی لپاره څه وکړل ؟

ځواب : قوانین یی رامینځته کړل ، سړکونه یی جوړ کړل ، د پردیو بریدونو د مخنوي په موخه یی د دیوال جوړول پیل کړل ، چی دا مهال د چین ستر دیوال په نامه یادیږي .

سوال : د شي هوانګ تي تر مړینی وروسته چین د کوم برخلیک سره مخامخ شو ؟

ځواب : په چین کی ګډوډی رامینځته شوه چی په پیله کی د هان لړی واک ته ورسیده .

سوال : د چین ستر دیوال د کوم واکمن په وخت کی ، په څو کلونو کی ، د کوم ځای څخه تر کوم ځای پوری ،سور او ارتفاع یی څومره ده؟

ځواب : دغه تاو راتاو دیوال د ارام سمندر له غاړو مورګو څخه پیل او د تبت په پولو کی پای ته رسیږي ، په ۲۰ کلونو کی ، لوړوالی یی اووه نیم متره او پراخوالی یی هم په همدي کچه دي .

سوال : د چین د خلکو د دین ، ادبیاتو ، علم ، صنعت او د هنر په اړه لنډ لنډ مغلومات ولیکی ؟

ځواب : دین یی د اسمان ، ځمکو او د خپلو نیکونو غبادت یی کاوه ، ادبیات یی د چینایانو لیک دود د هیروګیف په څیر یو لرغونی لیک دود دي دغه لیک دود د چه این په واکمنی کی مغیاری شو او په ټول چین کی دود شو چی تر اوسه دود دی ، علم یی د نجوم ، ریاضیات او جغرافیی وه ،صنغت یی ختینو لوښو او فلزی کاری وه ، هنر یی ډیری ښکلی مانی او غبادت ځایونه یی درلودل .

## د یونان تمدن

سوال : د یونان لومړی تمدن د څه په نوم یادیږي ؟

ځواب : د کرت په نامه .

سوال : کرت د لرغونی یونان اړوند ټاپو وزمه څنګه مغلومه شوه چی پرمختللی تمدن یی درلوده او د کومو تمدونو سره یی سیالی کوله ؟

ځواب : په ۱۹۰۰ز کال کی لرغون پوهانو په ډاګه کړه چی د کرت په جزیره کی یو پرمختللی تمدن شتون لري چی د مصر او بین النهرین تمدونو سره سیالی کوي .

سوال: د کرت تمدن نه کوم اثار په لاس راغلي او لرغونتوب یی کومو کلونو ته رسیږي ؟

ځواب : ډبرین او خاورین اثار او د پخلنځی وسایل او لرغونتوب یی ۲۵۰۰ نه تر ۱۵۰۰ مخزیږد پوری رسیږي .

سوال : یونانیان د کومو قبیلو سره تړاو لري نومونه یی ولیکي ؟

ځواب : د مصر اریایی قبیلو سره تړاو لري .

سوال : په یونان کی د اکنیانیانو د واکمنی بنسټ په کومه پیری کی کیښودل شو تر څه وخته یی دوام وکړ اکنیانیان په کوم کار بوښت و او د کومو وسایلو څخه یی ګټه اخیسته ؟

ځواب : د ۱۶ مخزیږدې پیری په شاوخوا کی کیښودل شو ، تر ۱۰ مخزیږدې پیری پوری دوام وکړ ، په کرنه بوخت وو ، او د برونز وسایلو څخه یی ګټه اخیسته .

سوال : د یونانیانو په وخت کی کومي مشهورې کیسي مینځته راغلی او د چا په واسطه وویل شوي دي ؟

ځواب : الیاد او ادیسه په نامه د ړوند یونانی شاغر هومر په واسطه ویل کیدې .

سوال : د یونان مشهورو ښاري دولتونو نومونه ولیکي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : سپارت او اتن وه .

سوال : د یونان د ښاري دولتونو بی اتفاقی او کډوډي چا ته موقع برابره کړه چی په یونان باندي ولکه پيداکړئ ؟

ځواب : مقدونی فلیب ته .

سوال : د یونان خلکو د دین ، هنر ، معماری ، علم او فلسفی په اړه لنډ لنډ مغلومات ولیکي ؟

ځواب : دین یی زیوس د (اسمان خدای ) ، پاسیدون (سمندر خدای ) ، اپولو (د لمر خدای ) او د اتینا (د بریالیتوب خدای ) غبادت یی کاوه ، هنر یی مجسمی ، لوبنی ، سیکي او غبادت ځایونه دی ، معماری یی مجسمو جوړول وه ، غلم او فلسفه یی علم په یونان کی ډیر پرمختک کړي وه ځکه چی هغوي د له غلمی او خبرو اترو سره ډیره لیوالتیا درلوده .

سوال : د یونان فلسفان څوکوو نومونه یی ولیکي ؟

ځواب : سقراط ، افلاطون او ارسطو وه .

# د روم تمدن

سوال : د روم تمدن په کوم ځای کی متمرکز و او د تمدونونه په برخه کی کوم کارونه سرته رسولی ؟

ځواب : په ایتالیا کی ، دغه تمدن هغه پول ګڼل کیږي چی د یونان تمدونونه ور څخه نوری اروپا ته تیریدل .

سوال : پخوانی ایتالویانو له یونان څخه څه زده کوي ، او د روم تمدن څه وخت لوری پوري ته ورسیده؟

ځواب : الفبا ، دینی غقیدې او هنرونه ، له میلاد څخه وړاندی په ۶ پیړی کی لوړی پوړی ته ورسید .

سوال : د روم ښار څوکاله مخکی په کوم ځای کی جوړ شوي ؟

ځواب : ۱۰۰۰ مخزیږد کی په لاتیوم کی .

سوال : د روم شاهی نظام څنګه رامینځته شو او تر څه وخت پوري یی دوام وکړ ؟

ځواب : هغه مهال د روم یو شمیر میشت قومونه سره یو موتی شول رامینځته یی کړ ، په ۵۰۹ مخزیږد کی .

سوال : د روم جمهوری نظام څنګه رامینځته شو او د څو جرګو لرونکی وه ؟

ځواب : د شاهی نظام څخه وروسته ، دربو ، مشرانو جرګه ، سل کسیزه جرګه او قبایلی جرګه .

سوال : د روم دولت په کومو هیوادونو نیولو سره په امپراتوری بدل شو ؟

ځواب : د مصر او کوچني اسیا په نیولو سره .

سوال : د روم ستروای بنسټ ایښودونکی څوک او د دې ستروای د کوم کال نه تر کوم کال پوری واکمنی وکړه ؟

ځواب : اکتاو وه ، او د ۲۷ مخزیږد څخه تر ۱۴ مخزیږد پوری .

سوال : د روم امپراتوري کوم کال پوری دوام کړی او د التاو په دوره کی کوم اصلاحی کارونه سرته رسیدلی ؟

ځواب : ۴۷۶ ز کال پوری ، فساد د مینځه لاړ قانون غښتلی شو نوی مخکمی جوړی شوی او د پوستی خدمتونو بنسټ کیښودل شو .

سوال : د روم امپراتوری څنګه د مینځه لاړه پوره مغلومات ولیکي ؟

ځواب : د روم امپراتوری په دوو برخو ویشله ختیځ او لویدیځ . لویدیځ روم د بریدونو په ترڅ کی د ځوړ په لور روان شو خو ختیځ روم تر هغه پایښت وموند چی پلازمینه یی په ۱۴۵۳ ز کال کی د ترکی مسلمانانو له لوری فتحه شوه .

سوال : د روم د خلکو د دین او تولنیز ژوند په اړه لنډ لنډ مغلومات ولیکي ؟

ځواب : مریخ په جګړو کی مرسته کونکی ، جونو د ښځو ساتونکی ، مشتری د باران ورونکی ، غطارد پیام رسوونکی او تولنیز حالت یی له دربو برخو څخه جوړه وه اصلی رومیان ، غیر رومیان ، او غلامان .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د روم قانون څو برخې درلودې او هر برخه یې د کومو خلکو لپاره غملی کیده ؟

ځواب : دري ځانګې لرې چې یوه یې د مدني او کورنۍ قانون چې یوازې د روم اتباع لپاره غملی کیدی ، دوهم د خلکو قانون و چې د ستروارکی په ټولو وګړو غملی کیده ، دریم یې طبیغي قانون وه چې د مخکمو په پرتله یې د فلسفي سره ډیر کار درلود .

سوال : د رومیانو لخوا د کومو قواوو بنسټ ایښودل شوي ؟

ځواب : اجراییه او مقننه دی .

سوال : د هنر او مغماری په لنډ لنډ مغلومات ولیکې ؟

ځواب : هنر یې لوبنی ، سکی ، وسلی ، مجسمی او داسی نور مغماری یې د پلونو ، مجسمو او ودانی جوړول دي .

## د امریکا تمدنونه

سوال : د پوهانو د څیړنو په اساس په امریکا کی خلکو څو کال مخکی ژوند پیل کړي او د دی لومړی وګړی سوک وو ؟

ځواب : له څو زره کالو مخکی یې ژوند پیل کړی او لومړی وګړی یې مغول وو .

سوال :د نظریاتو په اساس د ځینو شتو کلتورونو په نظر کی نیولو سره په امریکا کی څومره تمدن په کومو سیمو په څه نومونو یادیږي ؟

ځواب : په مرکزی امریکا کی د مایانو او ازتکانو او په سوېلی امریکا کی اینکایانو څخه غبارت دی .

## د مایا تمدن

سوال : د مایا تمدن د کوم کال څخه شروغ شوی او کومی پیړی پوری یې دوام کړی او په کومو هیوادونو کی نومونه یې ولیکي ؟

ځواب : د ۱۵۰۰ مخزیرد نه تر ۹ پیړی پوری ، ګوتیمالا ، مکسیکو ، هاندوراس او د یوکاتان کی .

سوال : د دی تمدن پاتی شوني په کومو سیمو کی پاتی شوی نومونه یې ولیکي ؟

ځواب : د ګواتیمالا په تیکال ، پالینکو ، بونامپاک او د هاندوراس په سیمو کی .

سوال : د مایا تمدن د دین ، هنر ، علم او مفماری په اړه لنډ لنډ مغلومات ولیکی ؟

ځواب : دین یې د اور خدای ، د اوربښت خدای ، لمر خدای او د هنر سولی خدای غبادت کاوه ،هنر او مغماری یې هغوی داسي ستر اهرامونه اباد کړي و چې په سر کی یې د غبادت ځایونو شتون درلود ، علم یې کلیزي او الفبا او انځوریز لیک یې رامینځته کړی وه له صفر او اغدادو سره یې اشنایی درلوده او په شمیر هوهیدل .

## د ازتک تمدن

سوال :  ازتکان په کومه پیړی کی راڅرګند په کوم ځای کی ؟

ځواب : په ۱۲ پیړی او په مکسیکو کی .

سوال : د ازتکانو امپراتوري د څو ولایتونو څخه جوړه وه ؟

ځواب : د ۳۸ ولایتونو څخه .

سوال : د ازتکانو پاچا د پاچاهی په څنګ کی بله کومه وظیفه درلوده او د چا له خوا به انتخاب کیده او د ازتکانو خلک په کومو ټولنو ویشل شوي وو نومونه یې ولیکی ؟

ځواب : راهب وه ، د اشرافو او جنګالیو د یوي شورا لخوا به ټاکل کیدل ، جنګالیو ، سوداګرو او کیسب ګرو باندی ویشل شوي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د ازتکانو مرکز کوم ښار و او کوم کال پوری دوام کړی او چا لخوا یی امپراتوری پای ته رسیدلی ده ؟

ځواب : تینوش تیتلان ښار وه ، ۱۵۲۱ ز کال پوري دوام کړی او د اسپانویانو لخوا له مینځه لاړه .

سوال : د ازتکانو دین ژبی او لیک په اړه مغلومات ولیکی ؟

ځواب : د لمر غبادت کاوه ، ژبه یی ناهوت وه ، او لیک یی انځوریزو وه .

## د اینکا تمدن

سوال : د اینکا تمدن څنګه او په کومه پیری کی رامینځته شواو د اینکایانو په امپراتوری کی کوم هیوادونه شامل وو ؟

ځواب : په ۱۱ پیری کی د قبیلی لخوا رامینځته شوه اکوادور ، پیرو او چیلي یکی شامل وه .

سوال : د اینکا واکمن د چا په مرسته واکمنی کوله او ځانته یی کوم کقب ورکړی وو او سیاسی ځواک یی د چا په لاس وه او خلکو په کوم خالت کی ژوند کاوه ؟

ځواب : د مذهبی کهنانو په مرسته ، ځانته یی د خدای زوی او استازی باله ، سیاسی ځواک یی د پاچا په لاس کی وه ، خلکو هیڅ واک نه درلود او د پاچا او کهنانو امر لاندی یی ژوند کاوه .

سوال : د کرنی ځمکه د چا ملکیت و او مهم پیداوار یی کوم وه ؟

ځواب : د دولت ملکیت وه ، او مهم پیداوار یی جوار او کچالو وه .

سوال : پیداوار په څو برخو ویشل کیده ؟

ځواب : په دري برخو اوله برخه یی دولت دوهم برخه یی امپراتور لپاره او دریمه برخه یی د کروندګرو وه .

سوال : د اینکا مغماری ، هنر او صنغت په اړه لنډ مغلومات ولیکي ؟

ځواب : د اینکا ښارونه د غبادت ځایونو ، جنګی کلاوو ، مانیو لرونکی وه او هنر او صنغت یی زیر لوښی ، وسلې ، مسو او نوری یی دی .

سوال : د اینکا وروستی واکمن څوک او د چا لخوا په کوم کال د مینځه لاړ ؟

ځواب : اتاهولپا وه او په ۱۵۳۲ ز کال کی .

## د اسلام د مبین دین د راڅرګندیدو پر مهال د نړی او غربستان د ټاپووزمی اوضاع

سوال : د اسلام ظهور څخه مخکی د نړی خالت څنګه وه او خلکو د کومو دینونو غبادت کاوه ؟

ځواب : د نړی پر مخ د کفر جهالت او ناپوهی د تورو وریځو لړی خپره وه او د یهودیت نصرانیت بوت پرستی او نورو غبادت کاوه .

سوال : جزیرة الغرب په څو برخو ویشل شوی وه او په هره برخه کی خلکو د څه شي غبادت کاوه ؟

ځواب : یمن ، نجد ، او خجاز ویشل شوی وه ، خجاز ډیرو خلکو د بتانو غبادت کاوه او نورو د لمر ، سپوږمی او ستورو غبادت کاوه .

سوال : د غربستان خلک په کومو کارونو بوخت وو په دې هیواد کی ځواک والو کوم کارونه کول او کمزورو کوم کارونه کول ؟

ځواب : په سوداګری ، کرنه او څارویو ساتنه بوخت وه ځواک واله په ناوړه او فساد کی ډوب وه او کمزورو په غریبی او بی وزلی کی شپی او ورځی تیراولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د غربستان خلکو د انجونو او ښځو په اړه کوم کاروونه ترسره کول د دې ظلمونو په نتیجه کی په غربستان کی کومه حوشالی مینځته راغله ؟

ځواب : یو شمیر خلکو به د لوړی له ډاره نجوني د خاورو لاندی کولی او ښځو شخصیت ته یی هیڅ درناوی نه درلود هغوی یی د غادی توکو په شان اخیستلی او خرڅولی ، هماغه وو چی خضرت مخمد ص په رسالت او نبوت مغبوث شو او دا د ناپوهی تیاری له مینځه لاړي

## خضرت مخمد ص ژوند له کوچنیوالی تر بغثته پوری

سوال : خضرت مخمد ص په کوم کال نړی ته تشریف راوړ او د نسب په اړه یی مکمل مغلومات ولیکي ؟

ځواب : خضرت مخمد ص په ۵۷۱ ز کال د اپریل د میاشتی په شلمه چی د د غام الفیل د ربیغ الاول له دولسمی نیتي سره سمون خوري دې نړی ته تشریف راوړ ، پلار یی غبدﷲ موریی بی بی امنه او نیکه یی غبدالمطلب او تره یی ابوطالب وه .

سوال : خضرت مخمد ص په څو کلنی کی دابوطالب سره چیرته سفر وکړ او د ده تره ابوطالب ته د چا لخوا وویل شو چی د خضرت مخمد ص په ساتنه کی ډیره مرسته وکړی ؟

ځواب : په ۱۲ کلنی کی شام ته سفر وکړ ، د یوه مسیخی دینی غالم لخوا ورته وویل شو .

سوال : خضرت مخمد ص څنګه د نورو خلکو څخه ممتاز وه ؟

ځواب : د غقلی او اخلاقی غوره والی له وجی .

سوال : خضرت مخمد ص څنګه د بی بی خدیجی د پام وړ وګرځید او بیایی ورسره واده وکړ په دغه وخت کی خضرت مخمد ص څو کلن وه ؟

ځواب : ځکه چی خضرت مخمد ص د نیکو اخلاقو ، ریښتینوالی او امانت ساتنی مشهور وه او په ۲۵ کلنی کی .

سوال : خضرت مخمد ص د بغثت څخه وړاندی څومره وخت یی په حرا غار کی تیراوه او د غبادت شکل یی څنګه وه ؟

ځواب : خضرت مخمد ص په هر کال کی یوه میاشت په هغه کی تیراوله او د نړی په پیدایښت او د ﷲ ج په ستر ځواک یی فکر کاوه .

سوال : په څو کلنی کی ورته ملاېکی وحی راوړه د کومی میاشت په څوم تاریخ ؟

ځواب : په ۴۰ کلنی کی ، د روژی د میاشتی په دولسمه د دوشنبی په ورځ جبراییل امین ورته راوړه .

سوال : د هغو صحابوو نومونه ولیکی چی په اول کی یی پر خضرت مخمد ص ایمان راوړ ؟

ځواب : خضرت ابوبکر صدیق ، خضرت غلی او خدیجی رض

## خبشی ته د مسلمانانو هجرت

سوال : خضرت مخمد ص د دین دغوت لپاره د چا کور مرکز ټاکلی وه ، او دا دغوت په څه شکل وه او څو کاله یی دوام وکړ؟

ځواب : د ارقم کور ، دا دغوت پټ و او درې کاله یی دوام وکړ .

سوال : خضرت مخمد ص خپل دغوت په کوم ځای کی ښکاره کړ او د کوم عکس الغمل سره مخامخ شو ؟

ځواب : د صفا په غونډې باندی ، ابوجهل ،ابولهب او نورو مشریقینو د مسلمانانو په ځورونه لاس پوری کړ .

سوال : لومړی هجرت د بغثت په څوم کال څو صخابوو او کوم ځای ته کړی ؟

ځواب : د بغثت په پنځم کال د رجب په میاشت کی ، ۱۱ صخابوو څلورو ښځو په ګډون ، خبشی ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : دوهم هجرت د بعثت په څوم کال څو صخابوو کړی دی او کفارو د چا په مشرۍ د سوغاتونو سره خپل استازی نجاشی ته ولیګل ؟

ځواب : د نبوت په ۶ کال ، ۸۳ صخابوو ، د غمرو بن غاص په مشرۍ .

سوال : طایف ته د خضرت مخمد ص سفر په اړه مغلومات ولیکی ؟

ځواب : خضرت مخمد ص د خلکو د دغوت په موخه د رسالت د دندې د ترسره کولو لپاره طایف ته چی مکی ته نږدی ښار و سفر وکړ او د خلکو مشران یی اسلام ته دغوت کړل .

## د غقبې لومړي تړون

سوال : د بعثت په ۱۱ کال خضرت مخمد ص د څو خذرجیانو سره د مکی نه بهار په کوم ځای کی لیده کاته وکړه او دې خذرجیانو څه وغده وکړه ؟

ځواب : ۶ تنو سره ، د غقبی په نامه ځای کی ، چی بیا به هم په دې ځای کی سره ووینو .

سوال : د غقبی لومړی تړون د بعثت په څوم کال د چا او چا تر مینځ لاسلیک شو ؟

ځواب : په دولسم کال ، د خضرت مخمد ص او یثربیانو تر مینځ .

سوال : د غقبی تړون مندرجات څه وو ولیکي ؟

ځواب : هیڅوک او یا شی د الله ج سره نه شریکوو ، غلا او ټول ناوړه اعمال نه ترسره کوو ، خپل اولادونه نه وژنو ، دروغ نه وایو ، په چا پوری تهمت نه ترو او د الله د رسول نافرمانی نه کوو .

سوال : د تړون څخه وروسته خضرت مخمد ص څوک د مدینی خلکو سره ولیګل چی تر څو هغوی ته د اسلام ت دعوت وکړی ؟

ځواب : خضرت مصغب بن عمیر رض .

## د غقبې دوهم تړون

سوال : د غقبی دوهم تړون د بعثت په څوم کال د د ځ تنو یثربیانو سره وشو ؟

ځواب : د بعثت په ۱۳ کال ، ۷۳ نارینه وو او دوه ښځو سره وشو .

سوال : د غقبی دوهم تړون پرېکړي کومی وی ولیکي ؟

ځواب : موږ د الله ج د پیغمبر هر حکم ته مثبت ځواب وایو ، مالی لګښتونه یی په غاړه اخلو ، کله چی خضرت مخمد ص مدینی منورې ته تشریف راوړی موږ د هغه سره هر ډول مرسته کوو .

## غزاګانې

سوال : څه وخت په کوم ځای کی د اسلامی دولت پښی ټینګی شوی او د کفارو څه ډول غکس الغمل سره مخامخ شو ؟

ځواب : وروسته د هغه چی خضرت مخمد ص او مسلمانان په مدینه منوره ځای پر ځای شول بیا د لومړی اسلامی دولت پښی ټینګی شوی او د اسلام دوښمنانو مخامخ دوښمنی پیل شوی چی په پیله کی یی د مسلمانانو او کفارو تر مینځ غزوې رامینځته شوی .

سوال : کومی جګړی ته غزوې او کومی ته سریی وای ؟

ځواب : هغه جګړه چی د مسلمانانو او کفارو ترمینځ شوی او خضرت مخمد ص پکی ګډون کړی وی د غزوې په نامه او هغه جګړه چی د مسلمانانو او کفارو ترمینځ شوی وي او خضرت مخمد ص پکی ګډون نه وی کړی د سریی په نامه یادیږي .

## د بدر غزا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د بدر غزا د هجرت په څوم کال پیښه شوه او لامل یی څه وه ؟

ځواب : دا غزا د هجرت په دویم کال د روژی د میاشتی په ۱۷ نیټه پیښه شوه او لامل یی دا وه چی مسلمانانو غوښتل د قریشو سوداګریز کاروان چی د شام څخه د مکی په لور روان وه تر لاسه کړی .

سوال : د بدر په غزا کی د مسلمانانو تغداد څومره او د کفارو تغداد څومره وه ؟

ځواب : د مسلمانانو تغداد ۳۱۳ تنه او د کفارو ۱۰۰۰ تنه وه .

سوال : خضرت محمد ص د کوم صحابی په خبرو خوشخاله شو او هغه خبری کوم وی ؟

ځواب : د سغد بن مغاذ په خبرو ، ای رسول الله موږ په تا ایمان راوړ او د ستا نبوت مو تصدیق کړ او شاهدی مو ورکړه چی څه شی تا راوړی خق دی د ستا د فرامینو د اطاغت ژمنه مو کړی او هغه څه چی ته یی غواړی په لور یی حرکت وکړه موږ ټول له تا سره یو .

سوال: په دغه غزا کی د مشریکینو څخه څو تنه ووژل شو او څو تنه بندیان شول ؟

ځواب : ۷۰ تنه یی ووژل شو او ۷۰ تنه یی ونیول شو .

## د اخد غزا

سوال : د اخد غزا د هجرت په څوم کال پیښه شوه په دې غزا کی د کفارو موخه څه وه او په دې غزا کی د کفارو شمیر څومره او د مسلمانانو شمیر څومره وه ؟

ځواب : د هجرت په دریم کال ، د بدر انتقام وه ، د کفارو شمیر ۳۰۰۰ تنه او د مسلمانانو شمیر ۷۰۰ تنه وه .

سوال : په دې غزا کی د خضرت مخمد ص د سپارو قومندان څوک او پلو قومندان څوک وه ؟

ځواب : د سپارو قومندان یی زبیر بن عوام او د پلو قومندان یی خضرت حمزه رض وه .

سوال : په دې جګړه کی مسلمانان ولی د ماتی سره مخامخ شو د مسلمانانو څخه څو تنه صخابه شهیدان شول او خضرت مخمد ص څنګه تکلیف ورسید ؟

ځواب : ځکه چی مسلمانان د غنیمتونو په را ټولو بوخت شو نو کفارو پرې یرغل وکړ او د ماتی سره مخ شو د خضرت حمزه په شمول ۷۰ تنه مسلمانان شهیدان شول او د خضرت مخمد ص مخ مبارک ټپی شو او غاښ مبارک یی په شهادت ورسید .

## د خدیبی سوله – بیغت الرضوان

سوال : خضرت مخمد ص د هجرت په څوم کال د څو صحابوو سره د غمری په نیت د بیت الله زیارات ته روان شو ؟

ځواب : د هجرت په ۶ کال ، د ۱۴۰۰ صخابو سره .

سوال : خضرت مخمد ص څوک د استازی په توګه د مکی خلکو ته ورولیږه او د خضرت مخمد ص په څه خاطر د مسلمانانو څخه د کفارو سره د جګړی کولو بیغت واخیسته ؟

ځواب : خضرت غثمان رض ، په همدی اساس خضرت مخمد ص په داسی خال کی چی خدیبه کی د یو ونی لاندی ولاړ و د جګړی په اړه د مسلمانانو څخه بیغت واخیست .

سوال : هغه تړون چی د خضرت مخمد ص او قریشو تر مینځ وشو د هغی مواد ولیکی ؟

ځواب : داوړه اړخونه باید د لسو کالو لپاره سوله وکړی او یو له بل سره جګړی ونه کړی د قریشو پرته د غربو هره قبیله له خضرت مخمد ص سره د اړیکو ټینګولو اختیار لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د خدیبی د تړون ګڼه څه وی او د تړون څخه وروسته خضرت مخمد ص کوم پاچاهان د اسلام دین ته راوبلل ؟

ځواب : مسلمانان د قریشو له لوري په امن کی شول او وخت یی ترلاسه کړ چی خپل پام ټولو غربي قبایلو ته واړوي ، د روم قیصر ، د ایران شاه ، مصر غزیز مقوقش د ، د خبشي پاچا ، نجاشي او شام مشرانو ته یی بلنلیکونه ولیږل .

## د خیبر غزا

سوال : د خیبر غزا د هجرت په څوم کال پیښه شوه غطفانیانو ولی ونه شو کړای چی د خیبر یهودیانو سره کومک وکړی ؟

ځواب : د هجرت په اووم کال پیښه شوه ځکه چی رجیع دره د مسلمانانو په ولکه کی وه .

سوال : د خیبر له غزا څخه د خضرت مخمد ص د ستنیدو په بهیر کی کومو دوو تنو مشرانو د اسلام د منلو اغلان وکړ ؟

ځواب : خالد بن ولید او غمرو بن غاص .

## موته غزا

سوال : د موته غزا د هجرت په څوم کال پیښه شوه موجه یی څه وه ؟

ځواب : د هجرت په اتم کال ، غسانیانو د خضرت مخمد ص استازی وژلی و او له بل لوري د دې وخت رارسیدلی و چی هغوي یو ځل بیا د اسلام مبارک دین ته راوبلل شي .

سوال : خضرت مخمد ص په ترتیب سره په دې غزا کی کوم قومندانان ټاکلی وو او د موته په غزا کی د مسلمانانو شمیر څومره وو ؟

ځواب : اول یی خضرت زید بن حارث رض وه دوهم یی خضرت جغفر رض وه او دریم یی خضرت غبدالله بن رواخه وه ، او شمیریی ۳۰۰۰ تنه وه .

سوال : د پورتنیو قومندانانو د شهادت څخه وروسته مسلمانانو خپل قومندان څوک وټاکه ؟

ځواب : سیف الله یغنی خالد بن ولید رض وه

## د مکي مکرمي فتح

سوال : د مکي مکرمي فتحی ته څرنګه شرایط برابر شو او خضرت مخمد ص د څومره لښکر سره د مکي مکرمي په لور خرکت وکړ ؟

ځواب : خضرت مخمد ص په دی پوه شو چی قریشو د سولي تړون مات کړی ، او د لس زره لښکر سره د مکی په لور روان شو .

سوال : کله چی د مکی خلک د خضرت مخمد ص د لښکر څخه خبر شو څه غکس الغمل یی وښود ؟

ځواب : سخت وارخطا شو او ابوصفیانو او د قریشو زیاتره مشران خضرت مخمد ص ته تسلیم شو .

سوال : هغه امتیازات چی د مکی په فتح کی خضرت مخمد ص قریشو او ابوصفیانو ته ورکړی کوم دی ؟

ځواب : هر څوک چی کغبی شریفی ته او یا د ابوصفیانو کورونو ته او یا په خپل کور کی پاتی شی او خپلی دروازی له شا څخه وتړی په امن کی دی .

سوال : خضرت مخمد ص مکی ته د ننوتلو وروسته کوم کارونه سرته ورسول ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : لومړی یې طواف وکړ او بیا یې د مکې شاو خوا ۳۶۰ بوتان د مینځه یوړل او بیا وروسته مکې مکرمې ته ننوت او دوه رکعته لمونځ یې وکړ .

## د حنین غزوه

سوال : د مکې مکرمې د فتح څخه وروسته په څه حاطر خضرت مخمد ص څو ورځې په مکه مکرمه کې پاتې شو ؟

ځواب : د مسلمانانو د اړوند چارو او تنظم لپاره ۱۵ ورځې په مکه مکرمه کې پاتې شو .

سوال : د حنیانو غزوه څنګه پیښه شوه مکمل مغلومات ولیکې ؟

ځواب : خپلې ښځې ، ماشومان او مالونه یې هم د جګړې میدان ته راوړی وو تر څو د دوی شتون د جګړې انګیزه په دوی کې پیاوړی کړی .

سوال : کله چې مسلمانان د حنیانو تنګی ته ورسیده څه مشکلاتو سره مخامخ شو ؟

ځواب : دښمن په کمین کې ناست وه او ناڅاپه یې پر مسلمانانو یرغل وکړ .

سوال :کله چې هوازن خلکود مخالفت څخه لاس واخیسته او خضرت مخمد ص ته تسلیم شو خضرت مخمد ص په دوی څه مهربانی وکړه؟

ځواب : هغه غنیمتونه چې له دوی څخه یې نیولی وه بیرته یې ورکړل .

## د تبوت غزا

سوال : د تبوت غزا د هجرت په څوم کال او څنګه پیښه شوه ؟

ځواب : د هجرت په ۹ کال ، خضرت مخمد ص ته اطلاع ورسیده چې د روم امپراتوری څو سوه زره لسیزه لښکر جوړ کړی او د اسلامی دولت د لمینځه وړلو لپاره چمتو دي .

سوال : خضرت مخمد ص د څومره لښکر سره د تبوت په لور روان شو او د مسلمانانو او کفارو تر مینځ جنګ ولی ونه شو ؟

ځواب : ۳۰ زره کسیز لښکر سره ، ځکه کله چې دغه لښکر تبوت ورسید رومیان وویریدل د مقابلې جرات یې په ځان کې ونه لید او هر لوری ته خپاره شول .

## حجة الوداع

سوال : د هجرت په څوم کال خضرت مخمد ص څومره صحابوو سره د حج په نیت د مکې مکرمې په لور روان شو ؟

ځواب : د هجرت په لسم کال ، د سل زره تنو سره .

سوال : د حجة الوداع د حج په مراسمو کې خضرت مخمد ص ګډون والو ته وینا وکړه د هغه وینا مهم ټکی ولیکې ؟

ځواب : ای خلکو خبرې واورې او له هغو څخه اطاعت وکړی ښایی په دی بریالی نه شم چې راتلونکی کال له تاسو سره اووسم ،د یو بل مال خوړل او وینی تویول په تاسی خرام دی ، د جاهلیت د مهال تولی چارې منع دي ، د ښځو په هکله د خدای ج څخه وویرېږي ، ښځې پر تاسو او تاسی پر ښځو خقونه لری او هغه څه چې ما تاسی ته پریښی که په هغه منګولې ولګوي هیڅ وخت به ګمراه نه شی او هغه د خدای ج کتاب او زما د سنتو څخه غبارت دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د هغې وینا متن ولیکئ چې خضرت مخمد ص په مینا کې کړی وه خاضرینو ته یې څه هدایت وکړ ؟

ځواب : ایا ما د الله ج احکام تاسو ته ورسول اصخابو وویل هو خضرت مخمد ص وفرمایل ای لویه خدایه ته شاهد اوسه .

## د خضرت مخمد ص رخلت

سوال : خضرت مخمد ص چې کله د حجة الوداع نه مدینې منورې ته راستون شو په کومه ناروغی اخته شو ؟

ځواب : د سر خوږې په ناروغی اخته شو .

سوال : د لږ رغیدو څخه وروسته مسجد نبوی ته راغی او خاضرینوته یې وینا وکړه د هغې وینا مهم ټکی کوم دي ؟

ځواب : لومړی یې د اخد د شهیدانو په خق د خیر او مغفیرت دغا وکړه ، سپارښتنه یې وکړه چې د انصارو درناوی کوی ،

سوال : خضرت مخمد ص ناروغی چې کله سخته شوه ابوبکر صدیق رض د خضرت مخمد ص په ژوند باندی څو لمونځونو امامت کړی ؟

ځواب : د ۱۷ لمونځونو امامت یی کړي .

سوال : خضرت مخمد ص د څو کلو په غمر د هجرت په څوم کال د دی نړی څخه رخلت وکړ ؟

ځواب : خضرت مخمد ص ۶۳ کالو په غمر د هجرت په ۱۱ کال د ربیغ الاول په دولسمی نیتي دوشنبی په ورځ د غرمی پر مهال د دي دنیا څخه رخلت وکړ .

## ابوبکر صدیق رض

سوال : د خضرت ابوبکر صدیق رض د نصب په اړه مغلومات ولیکي ؟

ځواب : د خضرت ابوبکر صدیق رض نوم غبدالله او د پلار نوم یی ابو قحافه او د مور نوم یی ام الخیر سلما بنت ضخر وه .

سوال : د خضرت ابوبکر صدیق رض څنګه د خلافت مقام ته ورسید او لومړی بیغت ورسره چا وکړ ؟

ځواب : خضرت غمر رض له د خضرت ابوبکر صدیق رض سره د خلیفه او د پیغمبر ص د ځای ناستی په توګه بیغت وکړ وروسته تولو له د خضرت ابوبکر صدیق رض سره بیغت وکړ .

سوال : د خلافت په دوهمه ورځ په مسجد نبوی کې یوه ارزښتناکه ویناوکړه د هغی وینا متن ولیکي ؟

ځواب : ای خلکو زه پر تاسی خلیفه شوم په تاسی خال کې چې زه له تاسی غوره نه یم که چیری می ښه کارونه کول تاسی می مرسته وکړی او که بد کارونه می کول تاسی می منغ کړی .

سوال : د مرتدینو او د زکات څخه انکار کوونکو سره د خضرت ابوبکر صدیق رض څومره وخت وجنګیده ، د کورنی خالت په سمیدو سره د خضرت ابوبکر صدیق رض غراق ته څومره لښکر د چا په مشری ولیږه ؟

ځواب : د یو کال څخه یی ډېر دوام وکړ د خالد بن ولید رض په مشرۍ غراق ته ولیږه او څلور زره کسیز لښکر وه .

سوال : رومیانو څومره لښکر برابر کړی وه تر څو د مسلمانانو سره وجنګیږي ، په مقابل کې د خضرت ابوبکر صدیق رض کوم ترتیبات ونیول تشریح کړي ؟

ځواب : ۲۴۰ زره کسیزه لښکر وه ، خضرت ابوبکر صدیق رض خضرت غمرو بن غاص فلسطین ته ، ابو غبیده جراح حمص ته ، خضرت یزیدابن سفیان مشق ته او خضرت شرحبیل بن حسنه اردن ته ولیږه .

سوال : د خضرت ابوبکر صدیق رض څومره وخت دوام وکړ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : د خضرت ابوبکر صدیق رض ۲ کاله او درې میاشتې دوام وکړ .

## خضرت عمر فاروق رض

سوال : خضرت عمر فاروق رض څه وخت په اسلام مشرف شو او څنګه خلافت ته ورسید ؟

ځواب : د بغثت په شپږم کال ، کله چې لومړی خلیفه ناروغ شو له اصخابو سره د مشورې وروسته خضرت عمر فاروق رض د خپل ځای ناستی په توګه وټاکل .

سوال : خضرت عمر فاروق رض د خلافت په وخت کی د اسلامی لښکرو په فتحات د کوم ځای څخه تر کوم ځای پورې وه ؟

ځواب : خضرت عمر فاروق رض په ختیځ کی ترکستان او خراسان او په لویدیځ کی تر لیبیا په سویل کی د شام او تور سمندرګی تر ورسیتو پولو پورې وه .

سوال : خضرت عمر فاروق رض د ابادی او اداری په برخه کی کوم کاروه سرته روسولی ولیکی ؟

ځواب : د صرې او کافي ښارونه ودان کړل او ډېره پراختیا یی تر لاسه کړه اداری نظام منظم شو اداری او نظامی تشکیلات ، مالی دفترونه او ځینی اداری جوړی شوې قاضیان وټاکل شو .

سوال : خضرت عمر فاروق رض د څو کاله خلافت وروسته په کوم کال د چا لخوا په شهدات ورسیده ؟

ځواب : خضرت عمر فاروق رض له لس کالو او پنځو میاشتو خلافت وروسته د ۲۳ هجری کال د ذوالحجی په ۲۷ نیټه د مجوسی ابولولو له لوری په شهادت ورسید .

## خضرت عثمان رض

سوال : د خضرت عثمان رض نسب په اړه مغلومات ولیکي د خضرت مخمد ص په ژوند کی څه وظیفه درلوده او په کومو غزاګانو کی ده سره اشتراک کړی وه ؟

ځواب : دریم خلیفه نوم یی عثمان بن عفان او لقب یی ذوالنورین وه په پنځم نیکهکی یی نسب رسول اکرم ص ته رسیده ، د وحی کاتب وه او د بدر عزا پرته نور په ټولو عزاګانو د رسول اکرم ص سره یو ځای وه .

سوال : خضرت عثمان رض څنګه خلافت ته ورسید پوره مغلومات ولیکي ؟

ځواب : له دریو ورځو خبرو اترو وروسته په پای کی د رایو په اکثرت سره خضرت عثمان د مسلمانانو د خلیفه په توګه وټاکل شو او ټولو ورسره بیعت وکړ .

سوال : خضرت عثمان رض د خلافت د دورې برياوو څو برخي درلودی هره برخه یی تشریخ کړی ؟

ځواب : دوه برخي یی درلودی لومړی یی د هغو سیمو خلک چی د خضرت غمر رض تر شهادت وروسته یی بهاوت کړي وه ، دوهم د قبرس او ترکیی سیمو خلک کله چی خضرت مغاویه رض د شام والي و د اسلامی خکومت په ولکه ک راغلی .

سوال : خضرت عثمان رض په کوم کال د څومره حلافت وروسته څنګه په شهادت ورسیده ؟

ځواب : خضرت عثمان رض د دولس کالو خلافت وروسته په ۳۶ هجری کال د بلو اګرو له خوا په داسی خال کی چی د قران کریم په تلاوت بوخت و په شهادت ورسیده .

## خضرت غلی رض

سوال : د خضرت غلی رض د نسب په اړه مغلومات ولیکي ؟

ځواب : خضرت غلی رض د ابوطالب زوی او د خضرت مخمد د تره زوی او زوم وه او لقب یی اسدالله او خیدر وه او د ابو الخسن او ابوتراب په کنیت هم مشهور وه ، له هجرت څخه ۲۱ کاله وړاندی په مکه کی زیږیدلی .

سوال : د صفین جګړه د چا او چا تر مینځ پیښه شوه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : د خضرت غلی رض او خضرت مغاویه تر مینځ په ۳۷ هجری کال د صفین په سیمه کی پیښنه شوه .

سوال : خضرت غلی رض په کوم کال د څو کالو خلافت وروسته د چا لخوا په شهادت ورسیده ؟

ځواب : په ۴۰ هجری کال د روژی په ۱۹ نیټه د پنځو کالو خلافت وروسته د غبدالخمن بن ملجم له خوا په شهادت ورسید .

## د راشدینو خلفاوو روښانه دورې ته لنډه کتنه

سوال : د راشدینو خلفاوو په خپل رسمی او شحصی ژوند کی د څه ډول کرنلارې څخه پیروي کوله تشریخ یی کړي ؟

ځواب : د خلکو سره ښه چلند ، غدل ، انصاف ، برابری ، ورورولی ، دود ، تبلیغ ، تحکم پلی کول .

سوال : د راشدینو خلفاوو په دوره کی اسلامی فتوخاتو د لامغلونو په اړه مغلومات ولیکي ؟

ځواب : په ټولو چارو کی یی د خدای ج څخه ویره کوله او د خدای ج رضا ته یی پام کاوه ، د غزت دنیا او اخرت بریالیتوب یی په اسلام باندی دریدو کی لیده ، دا یی غقیده وه چی اجل نه بدلیږي نو ځکه ډاډه جنګیدل ، پر خدای توکل او تکیه کوله ، مشورې او رازونو ساتنی ته یی پام کاوه او نور وه .

## امویان

سوال : د امویانو د کورنی بنسټ اېنبودونکی څوک و او په دې دوره کی د اسلامی فتوحاتو لمن تر کوم ځایه ورسیده ؟

ځواب : خضرت مغاویه وه ، په لویدیځ کی تر هسپانیې او فرانسی او په ختیځ کی ترکستان ، چین او هند پوری ورسیده .

## خضرت مغاویه رض

سوال : د مغاویه د نسب په اړه مغلومات ولیکی او هم واضع کړی چی خضرت مغاویه څنګه د مسلمانانو امیر شو ؟

ځواب : خضرت مغاویه د ابوسفیان زوی او د حرب لمسي دی د هجرت څخه ۱۵ کاله وړاندی په مکه مکرمه کی زیږیدلی خضرت مغاویه سره چی د شام والی وه په دې وافقې ورسیده چی خضرت مغاویه نشی کولای له خان وروسته څوک د ځای ناستی په توګه وټاکی باید دغه کار مسلمانانو ته پریږدی په دی ترتیب خضرت مغاویه د ټول اسلامی هیواد مشر شو .

سوال : خضرت معاویه په کوم کال وفات شو ؟

ځواب : ۴۱ هجری کال کی .

## یزید

سوال : یزید په کوم کال زیږیدلی ، په کوم کال قدرت ته ورسید ، د ده د قدرت په وخت کی کومه مهمه پیښنه رامینځته شوه او په کوم کال وفات شو ؟

ځواب : ۲۵ هجری کال کی ، په ۶۱ هجری کال کی ، د ده د قدرت په وخت کی د کربلا حماسه پیښنه شوه او په ۶۴ هجری کال کی وفات شو .

## عبدالملک بن مروان

Zakria khalim

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : عبدالملک بن مروان څنګه واک ته ورسید پوره معلومات ولیکي ، او عبدالملک بن مروان د خپلی واکمنی په وخت کی کومی سیمی د خپل واک لاندی راوستی ؟

ځواب : د خالد په ځای یی خپل زامن غبدالملک او غبدالغزیز یو بل پسی ځای ناستی وټاکل د مروان تر مړینی وروسته غبدالملک واک ته ورسید ، هغه کوفه ، بصره ، او هغه ټولی سیمی چی د غبدالله بن زبیر رض په لاس کی وې تر خپل واک لاندی یی راوستی .

سوال : عبدالملک بن مروان د څو کالو واکمنی وروسته ، د د څو کالو په غمر ، او په کوم کال کی وفات شو ؟

ځواب : ۲۱ کالو واکمنی وروسته ، ۶۳ کالو په عمر ، ۸۶ هجری کال کی وفات شو .

# عمر بن عبدالغزیز

سوال : د خضرت غمر بن غبدالغزیز د هغه ښه کارکردګی کومی وي چی د هغی په وجه ټولو محالیفینو د مخالفت څخه لاس واخیست ؟

ځواب : والیان او قاضیان یی د کاره ګوښه کړل او پر ځای یی پرهیز ګاره ، پاک نفسه ، ایمانداره او عادل اشخاص وټاکل د مالیاتو او خراج په اصولو کی یی بدلون راوست .

سوال : خضرت غمر بن غبدالغزیز د څو کالو خلافت وروسته څنګه په شهادت ورسید ؟

ځواب : خضرت عمر بن غبدالغزیز د دوو کالو او پنځو میاشتو واکمنی وروسته د یو غلام له لوری په شهادت ورسید .

سوال : امویانو څومره وخت په اسلامی نړی واکمنی وکړه او د دې کورنی مشهور واکمنان څوک وه نومونه یی ولیکي ؟

ځواب : امویانو کابو یوه پیړی واکمنی وکړه ، مغاویه بن سفیان ، یزید بن مغاویه ، غبدالملک بن مروان ، ولید بن غبدالملک ، سلیمان بن غبدالملک او عمر بن غبدالغزیز وه .

# د امویانو په دوره کی اقتصادی ، اداری ، کلتوری او پوځی وضیغت

سوال : د امویانو په دوره کی اقتصادی بدلونونه تشریح کړی ؟

ځواب : د غنیمت ، غشر او حمس تر سر لیک لاندی ډیر مالونه له اسیایی او افریقایی نیول شوو هیوادونو څخه پلازمینی د مشق ته لیږل کیدل .

سوال : د امویانو په وخت کی د ابادی په برخه کی کوم کارونه تر سره شوي ولیکي ؟

ځواب : کرنی ته ډیر پام وشو او د کرنی د پراختیا په موخه یی نهرونه او د اوبو بندونه جوړ کړل .

سوال : د امویانو په وخت کی کوم کلتوری کارونه سرته رسیدلی دی ولیکی ؟

ځواب : ډیر ښارونه جوړ شول دغه ښارونه د لویو برجونو لرونکی او په غین حال کی د دفاغی کلاګانو بڼه یی هم درلوده

سوال : د امویانو په دوره کی کوم فوځی اجرات شوی ، او د امویانو په دوره کی کومی سیمی فتح شوي ولیکي ؟

ځواب : په پوځی برخه کی یوه افراد لکه موسی بن نصیر د عسکری ټولیو د مشری لپاره وټاکل د افریقا په شمال او د اروپا په سویل لودیځ کی د اسلام لمن تر هسپانیي پوری ورسوله او د مینځنی اسیا تر هیوادونو ترکستان او کاشغر پوری پراخه کړه .

# د امویانو څخه غباسیانو ته د خلافت لیږد

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د امویانو څخه غباسیانو ته خلافت څنګه انتقال شو مکمل مغلومات ولیکي ؟

ځواب : ابو مسلم تور بیرغ په مشق کی ورپاوه مروان د نیل د سیند په د غباسی غسکرو له لوري ووژل شو او په دې ډول غباسی کورنی واک ته ورسید ه .

## ابولغباس سفاح

سوال : ابو غباس څرنګه قدرت ته ورسید او په لومړی خطبه کی یی خلکو ته ځان څرنګه مغریفی کړ او وروسته یی څه قسم کړنی وکړی ؟

ځواب : کله چی مروان ووژل شو ابوالغباس رسما ځان خلیفه اغلان کړ او خلکو ته یی ویل چی د مسلمانانو په لاربنود او خدمت کی به د راشیدینو خلفاوو کرنلاره پلي کوي له دې وروسته یی د اموي کورنی د غړو په ډله ییزې وژني پیل وکړ .

سوال : ابوالعباس څوکاله خلافت وروسته د هجرت په څوم کال وفات شو ؟

ځواب : د هجرت په ۱۳۶ کال وفات شو او څلور کاله خلافت یی وکړ .

## ابو جغفر غبدالله المنصور

سوال : ابو جعفر غبدالله المنصور د غباسی خلافت د تینګښت لپاره څه کړی ویی لیکي ؟

ځواب : هغه د دولتي چارو په تنظیم کی هم ډېر بریالي وه د مالیاتو  پوهني کرني او د لارو جوړیدو کی ډېر زیارویست .

سوال : *منصور* څوکاله خلافت وروسته د هجرت په څوم کال وفات شو ؟

ځواب : هغه د ۲۲ کالو وروسته په ۱۵۸ هجری کال کی حج ته د تلو په وخت کی وفات شو .

## مخمد المهدی بن جغفر المنصور

سوال : مخمد المهدی د اخلاقو او بنو کړنو په اړه لند مغلومات ولیکی ؟

ځواب : هغه په مجموغه کی د تولو انسانو سره ښه رویه درلوده قاضیانو ته یی ډېر درناوی درلود د هغوي په وړاندی د یو عادی فرد په څیر ودریده او د هغوي د پریکړو پلی کول یی د ځان لپاره یو ملکیفت او جدی موسوولت ګانه .

سوال : مخمد المهدی د څو کاله خلافت وروسته په څوم هجری کال وفات شو ؟

ځواب : د ۱۱ کالو خلافت وروسته په ۱۶۹ هجری کال کی وفات شو .

## موسی الهاری

سوال : موسی الهاری چی خلیفه شو لومړی یی کوم کار وکړ او موسی الهاری د څو کالو خلافت وروسته په کوم کال وفات شو ؟

ځواب : هغه د دربار د دروازو ساتونکی لیری کړل چی خلک ورته مخامخ ستونزي وواییِ او له دوو کالو خلافت وروسته په ۱۷۰ هجری کال کی وفات شو .

## هارون الرشید بن مهدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال : د هارون الرشيد د شخصيت په اړه مغلومات وليکی او د هغه مېرمين زوبيدې د مکې خلکو ته څه خدمت وکړ ؟

ځواب : هغه د اسلام په تاريخ کی يو ستر شخصيت وه او يو مدبر او عالم شخص وه ، هغي د خپلو شخصی ګاڼو په پلورلو سره د طايف څخه مکی ته د نهر د کيندلو کار په بريا سره پای ته ورسول چی دا نهر اوس هم د زوبيدې په نامه يادېږي .

سوال : هارون الرشيد د علم او ابادی په برخه کی کوم مهم کارونه سرته رسولی او د کومو هېوادونو سره يی اړيکي ټينګی کړی ؟

ځواب : هغه د پوهانو او فضلاوو ډېر اختِرام کاوه د هغه په دوره کی علوم او فنونه خپل اوج ته رسيلی و ، او د ابادی په برخه کی يی ښوونځي ، مدرسي ، روغتونونه ، کاروانسرايونه ، پلونه ، نهرونه او د اوبو بندونه جو کړي وه او هغه د چين او فرانسی هېوادونو سره اړيکی درلودی .

سوال : هارون الرشيد د څو کاله خلافت وروسته په کوم ځای کی وفات شو ؟

ځواب : او له ۲۳ کالو خلافت وروسته په طوس يا ننی مشهد کی وفات شو .

## مامون الرشيد

سوال : مامون الرشيد څرنګه خلافت ته ورسيده او د مامون الرشيد په وخت کی کومو علومو پراختيا ومونده ؟

ځواب : په دې وخت کی چی د مامون له طاهر فوشنجي چی د افغانستان و د لښکر مشري په غاړه درلوده او د امين له لوری علی بن عسی د لښکر مشر وه په دی اړو دوړ کی امين ووژل شو او لښکريی ماتی وخوړه او اسلامي خلافت رسما مامون ته ورکړل شو ، په دې دوره کی طيب ، رياضياتو ، فلسفی ، ادب ، منطق او نورو علومو ډېره پراختيا ومونده .

سوال : د غباسيانو وروستی واکمن څوک وه او د چا له خوا ووژل شو ؟

ځواب : وروستنی واکمن يی مستعصم بالله و چی د چنګيز د لمسی په واسطه په بغداد کی ووژل شو .

## د عباسی دوری سياسی ، اداری ، کلتوری ، نظامی اوضاع

سوال : د هغه ښارونو نومونه وليکي چی په غباسی دوره کی د نړی د تمدن مرکزونه ګڼل کيدل ؟

ځواب : بصرې ، کوفي ، قاهرې ، قيروان ، مروې ، ری ، بخارا او نشاپور وه .

سوال : د غباسيانو په وخت کی مسلمانانو د کومو شيانو جوړولو په برخه کی د اروپايانو استادان وو او اروپايانو د مسلمانانو څخه کوم غلوم زده کړی وليکی ؟

ځواب : د ساغت ، کاغذ ، باروتو ، جوړولو په برخه کی ، او د هندسه ، نجوم ، رياضی او نور ډېر فنونه او هنرونه يی د مسلمانانو زده کړي .

سوال : په بغداد کی د کومو علومو او فنونو په برخه کی پوهان او فلسوفان راغونډ شوی وه د دغی غلومو او فنونو نومونه وليکي ؟

ځواب : فيلسوفان ، جغرافيه ، نجوم ، رياضی ، هندسه ، نقاشان ، خطاطان ، موسيقي ، مغماری پوهان او د هر فن او مسلک ماهرين راغونډ شوي وه .

سوال : د غباسيانو په دوره کی د کومو کانونو استخراج په منظمه توګه پيل شوی دي ؟

ځواب : د مالګی ، سربو ، ګوګړو ، اوسپنی او قمتی ډېرو کانونو استخراج په منظمه توګه پيل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**